۱

منبع الجهاد

جهادي، سياسي اوادبي مياشتنى خپرونه

دريم كال ، لومړي گنه ، د ۱۳۷۰ هـ ش كال [redacted] سرطان

الحاج مولوي جلال الدين حقاني دعربي اماراتو له رئيس شيخ زايد بن سلطان ال نهيان سره ملاقات وكړ. شيخ زايد محترم حقاني ته دخوست دفتحى مباركي وويله ، دواړو خواودافغانستان دقضيې دحل په هكله خبرى وكړى

منبع الجهاد دليكوالو دكره كتنې په تله كې (۵ مخ)



کمپوزر: احمد ضیاً «ذهین بابري»

منبع الجهاد

جهادي ، سياسي اوادبي مياشتنى خپرونه

مؤسس:الحاج مولانا جلال الدين«حقاني»

دتأسيس كال:١٣٦٨هـ ش ، ١٤٠٩هـ ق

دريم كال ،لومړى گڼه ، د١٣٧٠ هـ ش سرطان ، د١٤١١هـ ق ذي الحجة د١٩٩١م،جولاي

دهيئت تحرير ترنظر لاندى

مكاتباتي پته

پوست بكس نمبر (١٠٣٣)

يونيورسټي ټاون - پيښور

دټيلفون نمبر : (٨١٢٢٥١)

بانكي پته

حبيب بانك ، دصدر روډ څانگه

دحساب نمبر: ٢٠٥٥٩ پيښـور- پاكستان

په دي گڼه كى

شمير	عنوان	مخ
١:-	(سرمقاله)	(٢)
٢:-	منبع الجهاد دليكوالو دكره كتني ...	(٥)
٣:-	نظري به وضع رقتبار مسلمانان ...	(١٥)
٤:-	كمونيزم يا دتكامل اوانساني ...	(٢٠)
٥:-	داسلام په اړه دصليبيانو اويهوديانو...	(٢٤)
٦:-	يك بحث جالب ازبعث وبعثي هاى ...	(٢٧)
٧:-	دالحاج مولوي نظام الدين حقاني مركه	(٢٩)
٨:-	جهادي ادب	(٤٤)
٩:-	لنډه كيسه	(٤٦)
١٠:-	تكل	(٤٨)
١١:-	لنډى دجهاد په لسيزه كي	(٥٠)
١٢:-	شيخ نور علي نور (انصارشاعران)	(٥٣)
١٣:-	ولسي ادبيات (وفادار)	(٥٥)
١٤:-	حوادث داغ جهان درماه سرطان	(٥٨)
١٥:-	ابدي ژوندي	(٦٢)

احمد شاه ((وحدت))

Ahmad Shah (Vahdat)

A. K. P. O.

بسم الله الرحمن الرحیم

منبع الجهاد

له نویو ارمانونو او هیلو سره دلوستونکو په لور

دمنبع الجهاد مجله ددی ګڼی په خپرولو سره په خپل دریم نشراتی کال پیل کوی دفرهنګی تولنی لپاره د ډیر ویاړ ځای دی چی ویی کولای شول په تیرو دووکلونو کی په دوامدار ه توګه دجهاد او سیاست په ډګرکی دعینی اوموجودوحقایقو په خپرولو سره خپلو رنځیدلو هیواد والو په چوپړکی ودریږی

په تیرودووکلونو کی مجلی تل کوښښ کړی چی په خپلو خپرونو کی دافغان مسلمان ملت جهادی ارمان دخپل انتهایی هدف په توګه په پام کی ونیسی او تل هڅه شوی چی جهادی بریاوی که دهیواد په هره برخه کی وی دکفر او الحاد پرضد زموږ دمسلمان ملت دبریاو په حیث نمانځل شی لکه څنګه چی منبع الجهاد مجلی په خپله لومړی ګڼه کی ، داسلام خدمت او اسلامی احکامو په رڼا کی دمسلمانانو داسلامی او جهادی احساس زیات تنویر او دجهادی روحیی زیاته تقویه دروسانو ، کمونستانو ملحدانو ، دهریانو اوداسلام ډول ډول دښمنانو چی داسلام او افغانستان پر ضد په توطئو او دسیسو لګیا دی،زموږ دخلکو خبرول خپل هدف او مرام ټاکلی و دمجلی کارکوونکو هم دهجرت په تاتوبی کی پدی اړه دانصارو او مهاجرو لیکوالو سیاسی ، جهادی ، ادبی بیلابیل مضمونونه چی هر یو یی دمجلی دټاکلی مرام سره موافق او برابر وو خپاره کړیدی

دمجلی کارکوونکو تل داستره خبره په یادساتلی چی افغانستان داسلامی نړی یو غړی او دکمونیزم دغه دکفر او الحاد دهیرګبدی څیری پرضد زموږ دمسلمان ملت جهاد د اسلامی نړی

یو ستر غورځنګ دی چی زموږ د زړورو او باتورو خلکو دتوری اومټو له لاری ځلاوومی لدی امله زموږ په نشراتو کی له اسلامی نړی او دنړی له مسلمانانو سره زموږ د مسلمان ملت نه شلیدونکی اړیکو ته لازیاته پاملرنه شویده ۰

مجلی تل خپل ګڼ او غوره مطالب دهیواد جهادی سنګر ونو او مورچو څخه برابر کړی او په هغه کی یی دسنګر نوم ورکی او ناپیژندل شوی قهرمانان په ګوته او دهغوی پرکارنامو یی په رڼاچولو سره دهیواد «بی شمیرو» جنګیالو په ډله کی تلپاتی کړیدی پدی ترڅ کی هغو منلیو او توریالیو شهیدانو ته یی هم خاصه پاملرنه کړی کوم چی دروسی او وطنی کفراو الحاد سره یی ډغری وهلی او په اسلامی او افغانی عالی شهامت یی دښمن مات او په پای کی خپلی وینی دهیواد دآزادی په لار کی بهولی او دشهادت لوړ مقام ته رسیدلی دی ۰

«منبع الجهاد مجلی دخپلو تیرو دوو کلو نو په خپرونو کی دی ټکی ته هم زیاته پاملرنه کړی چی دروسی استعمار زوال دافغانستان په غرونو او ډاګونو کی دروس دسره پوځ له ماتیدو وروسته پیل شویده او موږ ددی حقیقت په ثبتولو کی خپله ونډه ترسره کړیده ۰

زموږ اسلامی انقلاب لکه څنګه چی دوستان لری دښمنان هم لری او هغوی لګیادی زموږ دمسلمان ملت داصیل جهاد دبدنامولو دهغه منحرفو لو او یاهم له هغه څخه غلطی ګټی پورته کولو لپاره فعالیت کوی دغه دښمنان کیدای شی ددښمن په بڼه وی او هم کیدای شی دجهاد د دوستانو په لباس کی وی زموږ نشراتو وخت په وخت «دښمنانو دغو توطئیو او دسیسو ته ګوته نیولی مجاهدین مهاجرین او په تیره بیا جهادی قیادت یی هغه ته متوجه کړیدی او دی ستر خطر ته چی زموږ دجهادی جنبش اهدافو او مرامونوته سخت صدمه رسوی ګوته نیولی دی.

مجله پخپله خپرونوکی دروس په ملاتړ زموږ دمسلمانو خلکو پرخلاف دکا بل کمونست ګوډاګی رژیم ظلمونه او ناتار او هم افغانستان ته دروس دلښکر کشی په وخت کی دروسانوبی شمیره غیر انسانی او ناروا ظلمونو خاطری وخت په وخت خپاره کړی او زموږ ګرانو لوستونکوته مورسولی دی

زموږ دنشراتو بله مهم برخه هم جهادی ادب دی چی موږ تل هڅه کړی دشعرونو ادبی ټوټو تکلونو لنډو کیسو او خاطرو په خپرولو سره زموږ دمجاهد ولس جهادی خاطری منعکس

او همیشنی کړو څکه همدا ادبی برخه ده چی راتلونکی نسل زموږ دعصر او ژوند او دظالمانو او اشغالګر انو پرضد زموږ دقهرمان ملت دسخت او زړور مقاومت افسانی بیانوی او نن دی چی دجهاد ستری کارنامی په همدی شعرونو ،ادبی ټوټو تکلونو کیسو او کتابونو کی یو په بل پسی ثبتیږی او راتلونکی نسل ته په میراث پاتی کیږی په همدی لړکی موږ زموږ دمسلمان ملت دجهاد . نړیوالو انعکاساتوته هم پاملرنه کړیده او پدی لړکی هغه کتابونه او رسالی چی په پاکستان کی دانصارو وروڼوله خوا خپاره شوی او یاله پاکستان نه بهرخپاره شویدی موږ دهغو په اړه هم معلومات راټو ل او خپاره کړیدی او په قلمی او ادبی سنګرکی یی دانصارو شاعرانو او لیکوالو ونډه ځیرلی او خوندی کړیده .

دمجلی کارکوونکو تل هڅه کړیده داسی بیلابیل مطالب او مضامین خپاره کړی چی هغه دجهاد سنګر د یو عادی ټوپك په غاړه مجاهد نه نیولی دټولنی پوه عناصر او حتی دانصارو وروڼو ټولنی لپاره هم په زړه پوری وی ، پدی توګه واضحه ده چی زموږ خپرونه څو اړخیزه ده او زموږ مخاطب هم بیلابیلی ډلی دی چی دپوهی او نظریاتو له مخی یوله بل سره فرق لری

ښایی ددی ټولو ډلوډنو ق مراعاتول اوخوشاله ساتل موږ لپاره ډیرګران وی او ګران هم دی خو زموږ هیله داده چی زموږ داخیرغوښتونکی اوله ګوندی او حزبی تعصباتو او تمایلاتو پاك نشرات چی تراوسه مو دخدای په فضل کوښښ کړی دتفرقه انګیزو او زړه بدوونکو خپرونو څخه ډډه وکړو سره له دی چی ځینی وختونه په موږ تیری هم کیږی خو موږ دخپل اسلامی ارمان له مخی له هر ډول تربګنی او نشراتی ناندریو څخه ډډه کړی او هڅه موکړی چی دجهاد او ولس دارمانونو په محور خپل نشراتی فعالیتونه عیار کړو.موږخپلو ګرانو لوستونکو څخه هیله لرو چی زموږ دخپرونو دښه والی او سمون په خاطر له خپلو سو نظریاتو رغنده انتقادونو او پیشنهادونو څخه موږتل برخمن کړی ترڅو موږ وکړای شو هغه ښه نیت چی دخپلو خلکو دذهنو نو دروښانولو په برخه کی یی لرو په عمل کی په درسته توګه پلی کړو .

ومن الله التوفیق

«منبع الجهاد»

دلیکوالو دکره کتنې په تله کې

درنو لوستونکو !
دادي دمنبع الجهاد مجلي دريم نشراتي كال پيل شوءموږ د خپلو نشراتو دلا سمون اوسمبالښت په غرض چي وکړاي شو دخپلو مجاهدو او مهاجرو هيوادوالو دښه خدمت جوگه شو له خپلو ليكوالو ورونو څخه هيله وکړه چي دمجلي په اړه خپل انتقادي نظر څرگند کړي چي يو شمير يي اداري ته رارسيدلي دي .
موږ دمجلي دخپرونو په اړه ددغو درنو ليكوالو نظريات بي له لاسوهني دلته خپروو .
اداره

محترم مولانا قیام الدین کشاف داتحاد اسلامی افغانستان دارشاد اودعوت کمیتی رئیس دمجلی دخپرونو په اړه داسی لیکی :

بسم الله الرحمن الرحیم

په تیرو دیارلسو کلونو کی له یوی خوا دافغانستان مؤمنو بچیانو دباطل پرضد دحق په سنگرونو کی دخپلو گرمو او محبوبو وینو په وسیله دجهاد ډیوی بلی اوروښانه وساتلی ، دقدیر خدای په فضل اودسراومال د درندو قربانیو په برکت یی داسلام دښمنانو ته ماتی ورکړه خودی ترڅنگ دقلم خاوندانو هم په مجلو ، ورځپانو ، جریدو ، رسالو اوکتابونو کی په منظومو اومنثورو بڼو کی دجهاد



دحقایقو اوواقعیتونو په لیکلو سره دنړیوالو پام دسره ښکیلاك وحشیانه ظلمونه اودافغان مؤمن ولس بی ساری مقاومت ته راواړاوه اویوځل بیا یی په دی شلمه پیړۍ کی دجهاد له هغه فرهنگ سره اشنا کړل چی دتیرو پیړیو په اوږدو کی دنسیان په دوړو کی پټ شوی اوله اذهانو څخه وتلی ؤ .
دجهاد اوهجرت په دی زرین دور کی دمجاهدو لیکوالو له خوا گڼ شمیر خپرونی وشوی اوکیږی اوهره نشریه دجهاد هغه فرهنگی

سنگر دی چی پردښمن باندی یی اثر دمسلح سنگر له اغیزی څخه کم ندی .

دجهاد نشرات که سل په سلو کی نه وی نو اتیا په سلو کی خو له مطبوعاتی معیار سره اړخ لگوی اودیزاین ، صحافت او محتوی په لحاظ سره تریره حده دلوستونکو تنده اوتلوسه ورباندی ماتیږی .

له دی مجلی نه دمنبع الجهاد علمی او جهادی مصوره میاشتنی مجله مثال راالخلو ، دامجله سربیره پردی چی ډیر ښکلی ډیزاین اوصحافت لری اومطالب یی په ښایسته کمپیوټری خط لیکل کیږی محتوی یی هم خورا جالبه ده،دینی او معلوماتی مضامین لری ، سیاسی تبصری ، دجهاد خبرونه ، دشهیدانو یاد ، جهادی ادب اوثقافت اوگڼ شمیر نورپه زړه پوری مطالب په کی خپریږی چی مینه وال لوستونکی ځان ته راکاږی.

زموږ په جهادی نشراتو کی یوه نیمگړتیاپه عمومی ډول لیدله کیږی چی هره یوه محدوده ټاکلی تگلاره تعقیبوی اولوستونکی له ورایه پری پوهیږی چی یو اړخیز خدمت یی په نظر کی دی اوادب په کچکول کی چی له هری خواهرڅه راغونډ وی نوپه خپل مشخص زیرمتون کی یی تشوی چی کیدای شی له دی نه هم دتنظیمونو او اشخاصو دمختلفو پالیسو له امله په ناچاری او مجبوریت سره تعبیر وکړواو دخپرونو مسؤلین په کی یو ډول معذور وبولو اوطبعاً دمنبع الجهاد مجله هم له دغی ستونزي نه بیغمه نده .

په منبع الجهاد کی دځینو نورو نشریو غوندی نه دمسؤل مدیر نوم شته اونه دلیکوالی کتونکی ډلی نومونه په گوته شوی چی دابه هم دپالیسی نزاکت وی اونه به غواړی چی خلکو ته یی وروپیژنی خو زه دحقانی صاحب دفرهنگی دفتر مسؤل پیژنم.له ډولسو کلونو راپه دی خوا یی پیژنم دډیرښه استعداد خاوند ، تکړه لیکوال اوبااحساسه شاعر ، په یوه ځان له یوی کمیتی نه دزیات کار وس وال اوورسره داچی دجهادی فرهنگ دمتحرک آرشیف حیثیت لری ، هم په خپله زلمی اوهم یی ادبی نوق ځوان دی محترم الحاج شهرت ننگیال؛ خدای دی ورته داسلام اودافغانستان دمجاهد ولس له پاره دلازیاتو خدمتونو توفیق ورکړی .

محترم حبیب الله رفیع دهیواد تکړه محقق اوژورنالست دمجلی په اړه لیکی :

گرانه ننگیاله تاوده اودرنده له کومی سلامونه می ومنه !

دمنبع الجهاد دنوه کلن کیدو مبارکی درکوم ! که څه هم دوه

کاله عمر دیوی خپرونی له پاره دماشومتوب دوره وی خو دمنبع ـ الجهاد په برخه کی بی مبالغی ویلای شم چی دامجله دجهادی خپرونو په کورنۍ کی هم دصحافت له اړخه اوهم دثقافت له نظره یوه معیاری خپرونه ده .

باور دی چی ستابدیع نوق اونه ستړی کیدونکی هڅی، هاندونه

اوتکلونه به منبع الجهاد ته لانوره
هم صوری ښکلااومعنوی درنښت
ورو بخښي .

دمجلی معلوماتی خواچی اوس هم
پوره غنی ده ستادنوری توجه
پامته داره هم ده ، دکابل رژیم
دبیلابیلو اړخونو په باب
خپریدونکی مواد په زړه پوری دی
په همدی پول که دهغو غازیانو
خاطری او تجربی هم دمرکو په
ترڅ کی نشر کړی چی دجهاد له
پیل نه دصحنو او پیښو شاهدان
اواتلان وو ، ډیرپه زړه پوری مواد
به خوندی شی او منبع الجهاد به
دآینده له پاره دجهاد دتاریخ منبع
الاسناد هم وی .

دمجلی ادبی خواډي هم درنه او
مړه ده خصوصاً دانصارو
شاعرانو معرفی دی کټور گام دی
ځکه دصوبه سرحد او بلوچستان
ګڼ شمیر بادردو اوبادرکو
شاعرانو په داسی وخت کی زموږله
غږ سره خپل غږ مل کړ چی په دی
صوبو کی ځینی روس نوکره تش
په نوم لیډران دمسکو په خدمت کی
وو ، افغانان یی دروس په دښمنی
غندل اوخپل خلك یی دروس په
بمونو وژل .

دافغانانو دجهاد او دافغانانو
داتلولی په باب دلیکل شوو بهرنیو
لیکوالو دکتابونو معرفی هم
همداسی یوه زرینه لړۍ ده چی
دمنبع الجهاد لوستونکی دهغو
لیکوالو له آثارو څخه خبر وی چی
دوی ته یانه رسیږی اویا که ورته
ورسیږی په ژبه یی نه پوهیږی.

که داسی هره برخه څیړم
اوشمیرم خبره اوږدیږی مجله دی
په مجموعی توگه دستایلو ده
خودادی معنی نه لری چی ته
خپلی هڅی لږ کړی ، ته باید
هیڅکله په خپل کار قانع ونه اوسی
اوله هاند او تلاش نه لاس وانخلی
ځکه په داسی کارونو کی قناعت او
غرور دناکامی منزل ته رسیدل دی.
په پای کی ستاوستا دکار دملگرو
بشپړ بری اوخوښی غواړم .

په مینه ح ، رفیع

دافغانستان دپوهنتونونو
داستادانو داتحادیی رئیس
محترم پوهنوال حکیم تنیوال
دمنبع الجهاد مجله داسی
ارزیابی کریده :

دفرهنگی ټولنی مشر اوهمکارانو
السلام علیکم !

که دمنبع الجهاد دعلمی اوجهادی
میاشتنی مجلی خپرونو ته تراوسه
نظر واچوو نو مضامین اومطالب
یی هر وار ترتیر لاپسی غوره او
بهتر شویدی اواوس په پیښور کی
دخپلی نوعی ترټولو ښه مجله ده .

که خبره دمجلی دلاگټورتوب وی
نو زما پیشنهاد دادی چی ځینی
غیر تیوریکی او ژوند ته نږدی
خواوی هم ولری ، لکه دځینو
منطقو معرفی ، دځنگلونو اولارو

کیفیت ، دبیاودانولو نظریات
اوفکرونه، دمصاحبو اومرکو په
هکله زمانظر دادی چی کله ناکله
دغیر مشهورو قوماندانانو اویا
دنورو ولایاتو دقوماندانانو سره هم
وشی ترڅو مجله یوازی تریوی
سیمی پوری منحصره پاتی نشی .
په اخر کی یو ځل بیا تاسو ټولو ته
پخپلو جهادی کارونو کی بریالیتوب
غواړم .

ستاسو ورور حکیم تنیوال

محترم فضل الرحمن فاضل رئیس انجمن فرهنگی جمعیت اسلامی افغانستان مجله منبع الجهاد رااینگونه به بررسی گرفته اند :

برادر گرامی شهرت ننگیال صاحب ... اکرمه الله !

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته



صحتمندی شمارا باجمله همدردان وهمرزمان ازقدوس بی نیاز ، نیازمندم .

اخرین شماره مجله منبع الجهاد (جوزای ۱۳۷۰) که بانشر ان منبع الجهاد دومین سال عمرپربارش رابه پایان برد واینك سومین بهار زندگیش را آغازمیکند ، برایم رسید ، وازمطالعه هربرگ ان استفاده کردم وحظ بردم .

ترقی روز افزون مجله وزین وخواندنی منبع الجهاد که ازیکطرف پشتکاروتلاشهای شباروزی کارکنان مجله رابه نمایش میگذارد وازطرف دیگربرای همه می باوراند که ادارهٔ هرنشریه ای راکه برادر شهرت ننگیال به عهده گیرد ، شهرت با ان همرکاب شده وستاره اقبالش روبه درخشش می نهد که جریدهٔ مجاهد ومجله قیام حق وبصیرت دردوران تصدی شما وجهاد هنداره بهترین شاهد براین مدعاست .

من به این باورم که درفردای افغانستان اسلامی وآزاد واباد مجلاتی به صفت بهترین سند ودرست ترین مرجع درمعرفی ابعاد گوناگون جهاد وانقلاب قرار می گیرد ، که دردشوارترین لحظات هجرت متصد یانش درد های مردم رافراموش نکردند وازخط روشن واسلامی جهاد وانقلاب تخطی نورزیدند ، ودرپهلوی بیان آرمانهای انقلاب ورسوا ساختن دشمنان پرده برداشتن ازروی پلانهای شوم استعمارگران شرقی وغربی درراه یکپارچگی ملت کوشیدند وبه گفته نویسنده دردمند وآگاه ، برای وصل کوشیدند نه فصل که انشاالله مجله منبع الجهاد ادامه دهنده همین خط ومدافع همین روش است ، بنده درحالیکه این موفقیت سترگ رادرعرصه مطبوعات جهادی به شما ، خود ، وهمه همکاران تان وعلاقمندان مطبوعات جهادی تبریك عرض میدارم به آرزوی موفقیت روز افزون تان شما رابه کریم کارساز می سپارم .

به عرض احترام

برادر تان ف ، فاضل

محترم ښیرنوال محمد عارف غروال دتاریخ ټولنې رئیس دمنبع الجهاد مجلې کمیت او کیفیت ته داسې ګوته نیسي :

دنامتو قوماندان الحاج مولوی جلال الدین حقانی دفرهنگی ټولنی مشر ګران ورور الحاج ننگیال صاحب السلام علیکم!

دمنبع الجهاد دعلمی ، جهادی اوادبی میاشتنی مجلې په اړه زما دنظر دغوښتنې لیك پاڼه راورسیده اودادی خپل نظر په لاندی ټکو کی څرګندوم .

له کومی ورځی نه چی ستاسو په مشری دفرهنګی ټولنی په چوکاټ کی دمنبع الجهاد میاشتنی مجلی اودجهاد هنداری اوونیزی جریدی کوم تاریخی رسالت په پام کی ساتلی اوددغه تاریخی رسالت دترسره کولو په لاره کی یی کوم ګامونه اخیستی دی زما له نظره دستاینی وړدی او موږ په دی ډاډمن کوو چی که دغه پیل کړای شوی پروسه همدغه شان په بری سره خپل عادی جریان تعقیب کړی زموږ دجهادی ادب ، جهادی خاطراتو اوتاریخی حقایقو ډیر ګټور اسناد به پخپله غیږ کی خوندی کړی .

خبره دمنبع الجهاد دعلمی ، جهادی او ادبی مجلی دلاښه والی او لاغیز منتوب ده که واقعیت نه سترګی پټی نه شی اوپه تورو عینکو ورته ونه کتل شی ، نو دمجلی ترورووستی ګڼی پوری هم دکیفیت اوهم دفورم له مخی دګوت نیونی ځای پکی نه موندل کیږی خو خاصی ستاینی دلوستونکو چندان نه خوښیږی ، که څه هم هغه واقعیت ولری اوموږ باور لرو چی واقعیت لری خو داوخت ددی ایجاب کوی چی زموږ لیکنی دهیواد اوهیوادوالو دستونزو او مشکلاتو له منځه وړلو ته متوجه وی دمجلی دمضامینو تنوع دمجلی له لاغیزمنتوب سره زیاته مرسته کړی ده ، تاسو کوښښ وکړی چی دجهادی لندیو لړۍ دوام ومومی ، په پای کی تاسو اوستاسو په ذریعه اتل قوماندان الحاج مولوی جلال الدین حقانی اوستاسو دفرهنګی ټولنی کار کوونکو ته خپلی ښی هیلی وړاندی کوم اوپه جهادی هلو ځلو کی مو زیات بریالیتوب غواړم .

په مینه

الحاج محمد عارف غروال

محترم هدایت الله مجددی مدیر دراژانس خبری میدیا پیرامون نحوه نشرات مجله منبع الجهاد نوشته اند :

برادرمحترم ننګیال صاحب مسوول مجله وزین منبع الجهاد

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

بدینوسیله باابراز ممنونیت فراوان ازنظر خواهی جناب عالی که میشود منحیث ابتکاری تلقی گردد ، نظرات خویش رابه شرح زیر تقدیم میدارم .

١- مجله وزین منبع الجهاد که واقعاً منعکس کننده جهاد برحق

مردم شهید پرور افغانستان است ، تاکنون توازن دولسان ملی (پشتو ودری)رادرنظرنگرفته است اگراین دولسان متعادل گردد بهتر خواهد بود .

٢- ستونی برای انعکاس نظرات سالم همه افغانهابدون درنظر داشت ارتباط تنظیمی وغیر

تنظیمی وهمچنان اهل نظر غیر افغانی بخصوص درحالاتی که این نظریات حساب ومنفعت باربرای جهاد ماباشد درنظر گرفته شود .

۳- درصفحات منبع الجهاد ان طوریکه شایسته انست ، مسایل انتقادی بنظر نمیخورد ، اگر به این بخش توجه شود ، خالی ازمفاد نخواهد بود .

٤- به نشر مصاحبه های سایر قوماندانان جهادی فرصت داده شود ودرین زمینه میشود همکاری میدیا (اژانس حکومت مؤقت) جذب گردد.

٥- ازچاپ عکس های رنگه که خرچ بیشتر برمیدارد ، صرف نظر شود زیرا علاوه ازصرفه جوئی درمصارف حادثه تراژیدی تعطیل نشرات جریده صبح پیروزی (اخبار وزارت دعوت وارشاد حکومت مؤقت) تکرار نخواهد شد

والسلام

هدایت الله «مجددی »

اشاره کوی

محترم ننگیال صاحب !

سلامونه می ومنئ

زه خو داسی گڼم چی په جهادی

مطبوعاتو کی «منبع الجهاد » او«دجهاد هنداره » هغه خپرونی دی چی حساب پری کیدای شی اوترډیره حده په زړه پوری دی ، څرنگه چی تاسو په مشخص ډول د« منبع الجهاد » په باب نظرونه غوښتی دی ، نو زه به په همدی اړه خپل نظر درته ولیکم .

۱- سره له دی چی تاسو زیاته هڅه کوی چی خپله مجله دژورنالستیکی ځانگړنو په رڼا کی ښه تهیه اوخپره کړی اوپه دی برخه کی دخدای (ج) په فضل ترډیره برریالی یاستی او ترټولو غوره داچی دیرښه همکاران مو پیداکړی دی خوداخبره ددی معنی نه لری چی گوندی مجله لانوره نه شی ښه کیدای ، زه فکر کوم چی دورځی دسیاسی مسایلو په څنگ کی که دافغانستان دتاریخ ، فرهنگ ، ادبیاتو اودغه ډول نورو موضوعاتو په باب علمی مقالی اولیکنی خپری شی ، دمجلې علمی معیار به مو لاواوچت وی،دتبلیغاتی لیکنو پرځای که په مجله کی اکاډمیکی برخی برجسته شی دابه ډیره ښه وی ، ځکه چی تاسو دیو لړ سیاسی ، خبری اوتبلیغاتی مسایلو له پاره جریده هم لری .

۲- کومه بله خبره چی ستاسو دمجلې په باب زما په زړه کی راگرځی هغه داده چی ماته ډیره « په اصطلاح پرمصرفه » ښکاری ډیر زیات رنگونه راته په کی ښکاری که دمجلې ددومره زیات مصرف اړخ ، یوڅه راکم کړی فکرکوم بیا به موهم دمعیار له پلوه مجله « بدرنگه نه شی که یی علمی کیفی خواوو ته دقت وشی اوله مسلکی پلوه هم جالبه تهیه شی خورنگونه یی کم شی ، بیابه هم خپل معیار وساتی اوکه نه خامخا پیسی پری باید مصرف شی زه

محترم محمد زرین انځور دخپلواکی دمجلې چلوونکی دمجلې محتوا اوشکل اونوروضرورتونو ته داسی

خو وایم که داسې وشي چې له مجلې څخه په هغو پاتې پيسو نور علمي اوادبي ځانګړي اثار چاپ او خپاره کړي داکاربه ستاسو دعلمي اوفرهنګي هلو ځلو ارزښت لازيات کړي .

۳- دغه راز که ديو لړ سيمه ايزو حوادثو اومسايلو پرځای چې کله کله په مجله کې زيات ليدل کيږي ، دټول هيواد په سطحه عمده مسايلو اوحوادثو ته ځای ورکړ شي ، داکار به هم مجله لازياته هراړخيزه کړي امید دی د« منبع الجهاد » ددريم خپرنۍ کال په خير پيل کړي ، مجله په کې لازياته ښکلې اوپه زړه پورې کړي دمجلې دټولو همکارانو دنيکمرغۍ په هيله.

خوشحاله اوسې

زرين انځور

محترم عصمت «قانع» دجمعيت اسلامي دفرهنګي انجمن غړي دمنبع الجهاد دمجلې په بيلابيلو برخو باندې داسې نظر ښکاره کړ:

منبع الجهاد اودجهاد دری کاله !

زموږدوخت معاصر نهضتونه دخپلو اهدافو اوروا آرمانونو دلاس ته راوړلو په لاره کې په عمومي ډول له دوواړخونو څخه مخ په وړاندې حرکت کوي .

لومړی -نظامي اوپوځي اړخ

دوهم -تبليغاتي اوفرهنګي اړخ



هغه نهضتونه چې ديوې رواوپيغام لرونکې ايدیالوژۍ پربنسټ باندې غوړي خلکو ته دخلاصون اواستقلال عالي هدف ترلاسه کړي په زياته اندازه پرفکري اوايدیالوژيکي بنسټونو باندې دبدلون راوستلو کارته نظم او سازمان ورکوي اوپه دې توګه خپل مرام اوهدف دخلکو اوپرګنو په منځ کې خپروي .

دغسې تحريکونه اونهضتونه په عمومي ډول سره پر فرهنګي کار باندې زښت زيات حساب کوي .

اودنظامي اړخ لپاره مخکې ترمخکې فرهنګي اوفکري اړخ ته پاملرنه کوي ياپه بله اصطلاح هدفمند اوارمانجن تحريکونه لومړی دخپلو ارکانو، غړو او کړښو لپاره يوداسې فرهنګي بنسټ پياوړی کوي ترڅو دهغه دديد اوړنا په جهت کې په مشخصه توګه سره دښمن وپيژني ، اودخپل جنګ هدف دشعور اوعقل په رڼا کې په پوره توګه خپله لاره اومنزل وګرزوي .

دجنګ ترڅنګ دجنګ دهدف تبليغ زښت زيات بنسټيز اواساسي اهميت لري بې هدفه جنګونه هيڅکله هم دبري لاره نه شي وهلای .

دوخت اوزماني تغير لرونکو شرايطو دغه جنګونه په ظاهري توګه بريالي هم کړل خو تاريخ يې تراوسه پوري له حفاظت اوساتنې څخه ډډه کړي ده .

زموږ لوی اسلامي جهاد چې په يقيني توګه يې دراتلونکي پيړۍ دتاريخ دنوی جهت اونوی مسير رهبري کوونکي رويداد بللای شو دنظامي اوپوځي اړخ ترڅنګ يې فکري او فرهنګي محاذ اوجبهه هم درلودله خودغه محاذ اوجبهه ترنظامي سنګر ډيره ضعيفه اوزياته کمزوري وه .

پداسي حال کي چي زموږ وياړلي اوسرنوشت جوړونکي جهاد ددنيا دتولو انقلابونو په پرتله ديوي غني عقيدي اوغني فرهنګ پوخ بنياد درلوده.

اما ددغه روا اولوي جهاد عالي اولوړ اهداف دمطبوعاتو، تلويزيونونو او نورو وسايلو پرمخ دومره راڅرګند نه شول لکه چي بايد شوي واي.

زموږ دجهاد اوسني مشکلات هم که په واقعبينانه توګه وڅيړل شي نو زياتي داسي ستونزي به ومومو چي دجهاد ترڅنګ دسالمو اوجوړونکو تبليغاتو له نيمګړتياوو او کمزورتياوو څخه را زيږيدلي دي اودنړيوالو هغه تود حمايت چي تراوسه پوري يي زموږ جهاد له بين المللي لوړ اعتماد څخه برخمن کړي وو دغه اعتماد دجهاد له نه معرفي کيدو څخه يوڅه زيانمن شو.

اقلاً موږدومره هم ونشواي کړاي چي دهجرت په چاپيريال کي دپاکستان خلکو ته دخپل جهاد اصلي څيره وروښيو اوهغوي ته زموږ له جهاد څخه يوداسي ذهنيت ورکړو چي بايد ويي لري.!

دامريکا او ويتنام په جګړه به حتي هغه واقعه هم ددنيا دخبري آژانسونو په راپورپي ځپو کي راګرزيده چي ديوه امريکايي اويا يوه ويتنامي دتيږي کيدو سبب به ګرځيدلي وه مؤثرو او ګټورو تبليغاتو حتي دامريکا ولس هم دويتناميانو په څنګ کي ودراوه.

زموږجهاد له پيل څخه تراوسه پوري دډيرو لويو نظامي رويدادونو زيږنده جهاد وو اما ميډيا اوتبليغات موږدومره ضعيف وو چي دافغانستان خلکو به هم خپل اطلاعات له بهرنيو راډيو ګانو څخه ترلاسه کول.

- دمنبع الجهاد مجلي زموږ يو باوولرونکي جهادي ارګان هم دجهاد پرضد دساړه جنګ له پيل کيدو سره جوخت په خپلو خپرونو پيل وکړ او زما په نظر تر زياتي اندازي پوري يي زموږ له جهاد څخه پر ځاي نماينده ګي کړي ده اوخپل رسالت يي ددښمن دزهرجنو تبليغاتو په دفع کولو کي په غوره توګه ترسره کړي دي.

ترپورته بي ربطه او نيمګړي مقدمي وروسته غواړم چي دمنبع الجهاد پردوه کلن نشراتي عمر او ددغي مجلي پرخپرونو باندي خپل ځانګړي نظر څرګند کړم.

دمنبع الجهاد مجله زماپه نظر له ځوجهتو څخه يوه داسي مجله ده چي خپل مطبوعاتي هويت او تشخص يي معتبره کړي دي اواوس ديوي بااعتباري مجلي پرستيژ لري.

١- دوخت پابندي اودخپروني تسلسل:

منبع الجهاد هره مياشت پرتاکلي وخت باندي خپره شوي ده اودوخت دغي پابندي زماپه نظر دلوستونکو په سترګو کي ددغي نشريي لپاره زيات احترام راغونډ کړي دي.

په مسلکي لحاظ ديوي خپروني لپاره ترټولو لازم امر همدغه دوخت پابندي اودنشراتو تسلسل دي.

زموږ په جهادي مطبوعاتو کي دوخت اونيتي دنه رعايت رجحان دومره زيات شوي دي چي حتي دسترو سترو تنظيمونو نشرات هم دوخت له پابندي سره چندان مينه نه لري اوهرڅه چي کوي په سيمه ايزه اصطلاح (اندرغړب) يي کوي. چي دوخت دغه نه رعايت ترډيره زياتي اندازي پوري زموږ دلويو جهادي تنظيمونو پرنشراتي حيثيت باندي کلک ګوزار کړي دي.

ماشاالله دشیطان غوږونه دی کاڼه وی منبع الجهاد دتراوسه پوری له وخت اوزمان سره متوازی غزیږی اوخدای (ج) دی دغزونی عمر ورزیات کړی .

۲–مطالب او محتوی :

دمطالبواو موادو په لحاظ منبع الجهاد که له نورو جهادی مجلو سره دقضاوت په تله کی وتلو نو زماپه خیال دپښتو دهغی مشهوری ټپی په قول چی :

دمینی ټول موسره وکړ
زه یوه لوټه په یارزیاته وختمه !

حتما به منبع الجهاد یوه لوټه څه چی یو کړنگ پرنورو نشراتو باندی درنه وخیژی په څو دلایلو سره :

لومړی : دمنبع الجهاد ټولی هغه سیاسی تبصری چی تراوسه پوری موږلوستلی دی دجهاد پرخلاف هغه دسایس رابرسیره کوی چی ترزیاتی اندازی پوری مرموز دسایس دی.

په سیاسی تبصرو کی تراوسه پوری په عمومی توگه صرف اوصرف دجهاد دگټو پرسرموقف گیری شوی ده اودغه موقف گیری په اصطلاح درهبرانو اوگوندونو له شخصی موقف گیریو اوبی ځایه دریځ نیولو څخه ازاده ده زماپه نظر دایو مهم امتیاز دی چی منبع الجهاد یی لری .

۳– دخپرونو حرفوی اومسلکی رعایت :

منبع الجهاد چی تراوسه پوری کوم اختصاصی نشرات کړی دی .په هغو کی راپور تاژونه ، لنډ داستانونه اودولسی ادبیاتو دمعرفی کیدلو سلسله په تسلسل سره غزیدلی ده دمثال په توگه دپیښو اوقضایاو راپور تاژچی له هره ارخه یی اهمیت زیات دی اوزیات پوهان یی مطبوعاتی ژوندی فلم بولی دغه نوښت اوابتکار تراوسه پوری دمنبع الجهاد په بیلابیلو گڼو کی موږ لیدلی دی چی نورونشراتو لاتراوسه پوری دغه کار نه دی کړی .

یووخت مادپاکستان له مشهور مورخ او ناول لیکونکی ښاغلی نسیم حجازی څخه دمیثاق خون مجلی ته مرکه اخیستله اوپوښتنه می تری وکړه چی تاسو زموږ دقلم خاوندانو ته څه پیغام لری کنه ؟

حجازی په جواب کی راته وویل :

زه دافغانستان لیکوالانو ته پیغام ورکوم چی هغوی اقلاً په ورځ کی دخپلو جهادی پیښو په هکله یو راپور تاژ باید ولیکی .

حجازی راته وویل ماته دوخت جمهور رئیس ضیاالحق وویل چی دافغانستان جهاد په یوه ورځ یولک لیکوالو ته ضرورت لری اودغه یو لک لیکوال هم کم دی چی دافغانستان دملت دسرښندنو داستانونه ولیکی حجازی دخپلو خبرو په ترڅ کی وویل چی دابه یوه لویه فاجعه وی که دافغانانو دمقاومت بیلابیل اړخونه ترخاورو لاندی شی ځکه چی دغه جهاد دټول اسلامی امت یوه داسی متاع ده چی هیڅ ډول قیمت ورته نشی ټاکل کیدای . موږبه اوسنی پیړی کی بل داسی افتخار نه لرو چی زموږ راتلونکی نسلونه پرهغه حساب وکړی که یی لرونو هغه صرف اوصرف دافغانستان اسلامی جهاد دی .

په منبع الجهاد کی خپریدونکی داستانونه اوراپورتاژونه زه له همدی امله درانه اوغوره گڼم چی زموږ دراتلونکو مورخینو لپاره به ښه مواد وی .

اویقینا دمنبع الجهاد کلکسیونونه به په راتلونکی وخت کی دهرمورخ پرمیز باندی حضور ولری دایوډیر ستر کار دی چی زه یی له ورونو څخه دتسلسل هیله کوم ځکه دراپور تاژ اوداستانی ادب لپاره زموږ دجهاد ځولی دومره غنی اوشته منه ده چی په ورځ کی دسلهاوو پاڼو کاغذ مخونه ډکولای شی .

٤- دجهادی فولکلور راټولول:

منبع الجهاد دجهادی فولکلور دخپرولو ابتکار اونوښت هم کړی دی دجهادی فولکلور راټولول هغومره اهمیت لری لکه دجهاد تاریخ چې یی لری دجهاد په اوږدو کی دخلکو له خولی راوتلی اهونه اودهغوی دخوږمنو زړونوڅخه راپورته شوی لمبی دخلکوپه منځ کی هغومره اهمیت لری لکه دغوره شاعرانو په محفل کی چی یی یوه لوړادبی فن پاره اواثر درلودلای شی .

دملالی یوه لنډی لاتراوسه پوری ژوندی ده اودننګ په وخت کی دننګیالیو داهنګونو په سُر اوتال کی ګډیږی .

دانګریزانو پرخلاف اولسی سندری لااوس هم هغومره تودو خه اواغیزه لری لکه په خپل وخت کی چی یی درلوده خوسوه کاله پخوا کله چی ددښمن پرخلاف یو پښتون سرلښکرخالو خان ګومل ته بریالی راستون شونودالنډی ورته وویل شوه .

دخالو خان لښکری راغلی
زه به ګومل ته دخپل یار سلام له ځمه .

دغه لنډی خدازده دوخت او زمان له څومره پیچلو معبرونوڅخه تر موږ پوری رارسیدلی ده زیاتره پوهان دغه لنډی دعمر په لحاظ ترنورو لنډیو مشره بولی خو زمانی لاتراوسه پوری بوډی کړی نه ده بلکه هماغسی ځوانه ده لکه وه چی .

منبع الجهاد مجله باید دولسی اوسیمه ایزو شاعرانو هغه سندری بوللی ، بګتی ، سروکی اواهنګونه چی تراوسه پوری جهاد تخلیق کړی دی راټول کړی .

دولسی شاعرانو معرفی کیدل اودهغوی داشارو دنمونو چاپول غوره نوښت دی که خدای منبع الجهاد ته نور عمر هم ورکړ نو ډیر زر به یی دښایست غوټی نوری هم وغوړیږی انشاالله

ځانګه به نن سباکی ګل شی
مایی پرسرکی سری غوټی لیدلی دینه .

محترم پوهنیار محمد نسیم فقیري استاد دیپارتمنت دري پوهنځي تعلیم وتربیه ومدیر عمومي محصلین پوهنتون دعوت وجهاد نوشته است :

بسم الله الرحمن الرحیم

اغاز سومین سال نشراتي مجله وزین « منبع الجهاد » راصمیمانه تبریک گفته وازخداوند متعال موفقیت هاي مزید سنگرداران فکروقلم را درراه تنویر اذهان ، بخصوص درزمینه افشاي توطئه هاودسایس جدید دشمنان جهاد وافغانستان ، خواهانیم .

مجله « منبع الجهاد » درطي دوسال حیات نشراتي پر بار خویش توانست مانند یك ستاره درخشان در ردیف کهکشان مطبوعات جهادي قرار گیرد وبامطالب ، جالب ، خواندني ومتنوع ، توجه اهل مطالعه وتحقیق رابصورت روز افزون بسوي خویش جلب نماید.

باید تذکر داد که ازجمله ابتکارات بسیار خوب مجله « منبع الجهاد » یکي نشر حوادث داغ هر ماه است که کار نویسندگان واهل تحقیق رادرین قسمت اسان میسازد .

همچنان « دافغانستان جهاد دکتاب په هنداره کي » و« انصار شاعران » نیز ازجمله مطالب بسیار جالب ، خواندني وداراي اهمیت تاریخي وادبي مي باشد ومتاسفانه که مطبوعات جهادي درین زمینه کمتر توجه کرده اند

امید است که این سلسله درنهایت بصورت کتاب بچاپ برسد .

سرمقاله هاي مجله همواره منعکس کننده خواست ها وضرورت هاي زماني بوده وبدین لحاظ قابل تحسین مي باشد .

واما پیشنهاد بنده اینست تا مجله منبع الجهاد ، جریده جهاد هنداره و... در قسمت نشر وبیان کارنامه ها وعظمت وشکوه فرماندهان عالي مقام جهاد راه افراط رادرپیش نگیرد ودرین شرایط که « کیش شخصیت » گرمي بازار خویش را تا حدود زیاد ازدست داده است ، به این مرض خطر ناك مبتلا نگردد.

همچنان افق دید نشراتي خویش رابایدخیلي وسیع ساخته واز محدوده هاي کوچك منطقوي وجبهه اي پارافراتر گذارد .

دراخیر یکبار دیگر اغازسال سوم نشراتي مجله منبع الجهاد رابه همه کارکنان مجله بخصوص به مسوول امور فرهنگي برادر عزیز ویار دیرین ما الحاج شهرت ننګیال ازصمیم قلب تبریك وتهنیت میگویم ، وبراي صحت ، سعادت وموفقیت همه مجاهدین راه خدا درهمه سنگر ها بخصوص سنگر فکر وقلم دعا مي نمایم.توفیق الهي رفیق راهشان باد . والسلام

نظری به وضع رقت بار مسلمانان یوگوسلاویا

ترجمه ونگارش: وزیر احمد «منیب»

کشور فدراتیف یوگوسلاویا از ٦ جمهوریت و٢ ایالت تشکیل گردیده ، نفوس مجموعی ان (٢٥) ملیون بالغ می گردد . درجمهوریت های بوسینا ،مقدونیه ، کوسوفو وجبل اسود تعداد مسلمانان نسبت به سایر جمهوریت ها بیشتر میباشد طبق احصائیه ها درجمهوریت بوسینا (بشناق) ویاهرسك ٣ملیون مسلمان، در کوسوفو ١/٨ملیون ، درمقدونیه یك ملیون ، درجبل اسود٤/. ملیون مسلمان ودر صربیاوسایر جمهوریت ها(٣/.) ملیون مسلمان حیات بسر میبرند که تعدادمجموعی مسلمانان یوگوسلاویا به ٦.٥ ملیون بالغ میگردند .

وضع اجتماعی مسلمانان :
درمناطق یوگوسلاویا مسلمانان به حالت ناگواری زندگی مینمایند ودرجمهوریت هایکه مسلمانان دراقلیت قرار دارند بحیث هموطنان درجه دوم وسوم باایشان برخورد صورت می گیرد وانها را عامل تخلف وعقب مانده گی کشور معرفی مینمایند . درتمام جمهوریت های یوگوسلاویا مسلمانان مشکلات گوناگونی رامتحمل می گردند . خصوصاً مسلمانیکه به ارکان دین خود پابند باشند ویااز عضویت حزب کمونستی اجتناب ورزند ازطرق مختلف شکنجه وتعذیب می گردند. انهای که به دین اسلام استوار وپابند باشد اجازه ندارند در دوایر حکومتی کار وخدمت نمایند . هرگاه مامور وکارکن دولتی به نماز ، روزه ویادیگر شعایر اسلامی مبادرت ورزد ازتمام امکانات وامتیازات اجتماعی محروم می گردد .

مشکلات اقتصادی مسلمانان :
یوگوسلاویا دولت فقیر است ومشکلات اقتصادی تمام نواحی انرا فرا گرفته است مجموع صادرات ان نمی تواند حتی بخش اندك سود دیون کشور های غنی را بپردازد .
برای حل این مشکلات حکومت میکوشد بابلند بردن نرخ ها وتقلیل معاشات موظفین بااین وضع مقابله نماید ولی این امر مشکلات اجتماعی واقتصادی مردم راافزون ساخته از تأمین ضروریات زندگی خویش عاجز گردیده اند .این وضع رقت بار تاثیر منفی بیشتر بالای مسلمانان ان دیار بجا می گذارد ازین جهت مسلمانان طبقه فقیر انکشور راتشکیل میدهند .

حملات تروریستی علیه مسلمانان :

ازمشکلات عمده مسلمانان درکشور یوگوسلاویا حملات تروریستی است که برای ایجاد فضای بی امنی.دربین مسلمانان براه انداخته میشود .

بعد از سقوط خلافت اسلامی عثمانی مسلمانان ان دیار مشکلات زیادی را متحمل گردیده اند درطول جنگ جهانی اول ودوم بیشتر مساجد شان توسط یهودی ها ویران ویابسته گردیده است .

بعد از جنگ جهانی دوم وتشکیل حکومت کمونیستی ظلم وجبر وسیعی علیه مسلمانان براه انداخته شده . زنان مسلمان مجبور به ترک حجاب گردیدند علماء وروشنفکران به اثر مخالفت علیه این جنایات به حبس وقتل محکوم گردیدند و این علت باعث هجرت بیشترمسلمانان به ترکیه ودول مجاور ان گردید ه است .

دربین سال های ۱۹۶۳-۱۹۷۰مسلمانان دربیشتر مناطق قتل عام گردیدند واولین عمل ضد انسانی راجنرال «رانکوفش»علیه مسلمانان یوگوسلاویا مرتکب گردید و درشهر بیله درطول یکروز (۴۰) نفر عالم مبارز بخاطر دفاع ازعقاید اسلامی محکوم به قتل گردیدند ازین نسبت فعلاً همین منطقه رامسلمانان بنام منطقه الشهداء مینامند .

ازا نجاکه ظلم وتعدی بی شمار علیه مسلمانان به نتیجه مطلوب نرسید حکومت سیاست شیادانه راعلیه ایشان براه انداخت ، مساجد راباز کرده وازادی فکری رااعلان نمود ولی درخفاکوشید مسلمانانرا غافلانه به گمراهی کشاند چنانچه پروگرام های تعلیمی مکاتب را به شیوه غربی ساخته تمام مسایل دینی راازان حذف نمود تاریخ اسلامی راجعل کرده همه انرا قتل ونابودی وانمودساخت . وبدین طریق اسلام رادین رجعی وخلاف فطرت بشری جلوه دادند .

هدف ازین سیاست شیادانه ومکارانه این بود تامسلمانان ازدین فاصله گرفته به گمراهی روی اورند وقبل از سال ۱۹۸۰ جوانان به اموردینی کمتر علاقه

نمای مسجد بلگراد

داشتند درمساجد بجزعدهء محدودی موسفیدان ازطبقه جوان کمتر دیده میشدند زیرا درصورت تظاهر به اسلام مرتجع معرفی می شدند . بعد ازسال ۱۹۸۰ مسلمانان باجذبات بیشتر به اسلام روی اوردند ، فعلاً مسلمانان به دین ومراسم اسلامی خویش علاقه خاصی دارند وجوانان بدین خویش افتخار کرده درمساجد حاضر میشوند ، بدین طریق تمام توطیه های دشمنان اسلام خالی از اب برامد واین امر عداوت ملحدین را از دیاد بخشیده باوسایل واسلوب جدید درپی انحراف مسلمانان گردیده اند .

مشکلات اجتماعی مسلمانان:

مسلمانان نمی توانند به سهولت درمکاتب وموسسات تعلیمی شامل گردند که این امر باعث دل سردی شان از فراگرفتن تعلیم گردیده درمیان شان جهل وبی سوادی راباراورده است . چون اکثریت شان از نعمت سواد محروم اند به انجام اعمال شاقه ودرجه پائین مجبور می گردند بنأ با مشکلات زیادی امرار حیات مینمایند . چون کار وخدمت در دواير حکومتی برای مسلمانان مساعد نمی گردد مجبورمی شوند وطن راترك کرده به دیار دیگرروی اورند .

فیصدی پذیرفتن مسلمانان درجامعات سکوبیا از ۲- ۵ / تجاوز نمی نمایند درحالیکه نفوس نسبی مسلمانان درین جمهوریت ۵۰ فیصد بالغ می گردد .

مشکلات کاریابی:

مسلمانان نمیتوانند دردواير حکومتی توظیف گردند این امر درجمهوریت مقدونیا بیشتر محسوس میباشد وحکومت میکوشد تبعیض مذهبی را دربین مسلمانان ایجاد نماید درتمام شرکت هاوموسسات دولتی درشهر تیتو نسبت توظیف مسلمانان کمتر از ۱۰ فیصد می باشد واین عدد نیزشامل ان عده مسلمانان است که نمی توانند به اسلام تظاهر نمایند.

این مشکلات سبب گردیده اکثر مسلمانان فامیل های خویشرا گذاشته به المان ، استرلیا ودیگر کشور های مجاور برای حل مشکلات اقتصادی خویش مدت مدیدی سفر نماید . حکومت علیه مسلمانان شایعات رابراه انداخته انها راباعث ایجاد تفرقه های مذهبی قومی ونژادی معرفی می نماید

پروپاگندعلیه‌مسلمانان:

پروپاگند شدید درتمام جراید ومجلات یوگوسلاویا علیه مسلمانان ودین مقدس اسلام پخش می گردد ، حکومت سعی دارد اطفال رااز فراگرفتن علوم اسلامی درخانه ومساجد بازدارد .

قانون تصویب شده دولت الی سن۱۵ سالگی تعلیم اسلامی راممنوع قرار میدهد که به اثر ان عکس العمل شدید مسلمانان برانگیخته شد ودر نتیجه ازتطبیق ان صرف نظر گردیده اطفال مسلمان اجازه یافتند هفته دومرتبه در روزهای شنبه ویکشنبه برای دوساعت تعلیم دینی بیاموزند.

حکومت مقدونیه حمله شدیدی رابرای متفرق ساختن مسلمانان براه انداخته است خانه هاومنازل شانرا بنام تعمیر وباز سازی کشورویران مینماید درحالیکه هیچ گونه معاوضه نیزبایشان داده نمی شود . ازین طریق حکومت

میخواهد به اهداف ذیل برسد :

الف: اقتصاد مسلمانان ضعیف گردیده مجبور به ترك وطن گردند

ب: اجتماع مسلمانان برهم خورده روابط اجتماعی شان ازبین برود

ج: چون مساجد سابقه بهدف باز سازی ویران گردیده ومسلمانان نمی توانند مساجد جدید تعمیر نمایند بدین طریق مسلمانان ازدین فاصله گرفته منحرف می گردند .

مسلمانان مجبور اند دیوار های بلند منازل شانرا ویران نمایند درصورت تخلف جزای سنگین می بینند.

تحدید نسل مسلمانان :

مسلمانان باوسایل مختلف تشویق میگردند ازتناسل وبار داری اجتناب ورزند به این هدف کنفرانس های خصوصی وسیمینار هادایر گردیده درارابطه به خطر تکثر اگاهی داده میشوند برعکس درجمهوریت ها غیر اسلامی مردم به تناسل تشویق می گردند ولی علیه مسلمانان مصاحبه های مطبوعاتی وتلویزیونی انجام داده انها را به تحدید نسل ترغیب مینمایند .

جمهوریت مقدونیه قانونی رابه تصویب رسانیده که مسلمانان بعد از تولد طفل سوم ازتمام حقوق اجتماعی شان محروم می گردند .

شایعات درین مورد علیه مسلمانان باندازه زیاد گردیده که یکی از اطباء در دانشگاه اسکوبیا چندین طفل مسلمانرا در شعبه ولادت بعد

– که مسلمان البانی درحقیقت قوم پرستانی اند که به قومیت بیشتر از اسلام تکیه مینمایند ، این شائعات بحدی رسیده است که عده کثیری ازمسلمانان مخلص نمی توانند خودرا البانی ویا مقدونی خوانند .



منظره مسجد حصری بیک

ازتولد شان بقتل میرساند وقتی این جنایت اشکار گردید انرا عمل غیر قصدی وانمودکرده وطبیب مذکوررا بری نشان دادند .

نشر قومیت پرستی دربین مسلمانان:

حکومت میکوشد دربین مسلمانان مقدونی ، البانی ویوگوسلاویا یی تبعیض نژادی ومنطقوی راایجاد نماید ، ومسلمانان یوگوسلاویا یی را علیه مسلمانان البانیاتحریك می نماید وچنان شایعه پراکنی میکند

ازین طریق ملحدین حاکم میخواهند وحدت فکری مسلمانان را ازبین برده انها را به اختلافات قومی دچار سازند .

۹– مسئولین اوقاف کسانی تعین می گردند که طرفدارحکومت کمونستی ودرحزب کمونست عضویت داشته باشند ، لذا بیشترمسوولین اوقاف از احکام شرعی هیچ اطلاع ندارند .

مساجد فقط برای نماز های پنج گانه منحصر گردیده است که بعد

ازادای نماز جماعت بسته میشوند ، مسلمانان حق ندارند هیچ نوع جلسه ویاپروگرام های دیگر دینی رادرمساجد انجام دهند.

ایجاد فساد جنسی دربین مسلمانان:

حکومت کمونست یوگوسلاویا سعی دارد طبقه اناث خصوصاً دختران جوان به فحشاء وفساد روی اورند وهمه به انجام مقررات ذیل مکلف میباشند :

الف: دختران هیچ گاه اجازه ندارند درمکاتب ودوایر حکومتی باحجاب داخل گردند .

ب : دختران جوان مجبور اند مدت دوماه دوره مکلفیت عسکری را بگذ رانند وبعداً درادامه ان مختار اند .

منع تعمیر مساجد :

مسلمانان اجازه ندارند مساجد جدید تعمیر نمایند . چنانچه مسجد زاگریپ که تهداب ان قبل از جنگ جهانی دوم نهاده شده بود بعد از طی مشکلات زیادمسلمانان در سال ۱۹۸۰ توانستند تعمیر انرا تکمیل نمایند وبعد از اینکه تعمیر مسجد به اکمال رسید تاچندین سال دیگر مسلمانان حق نداشتند دران نماز بخوانند تا اینکه حکومت مبالغ زیادی ازمسلمانان اخذ کرده اجازه داد فقط نماز های جماعت را دران انجام دهند.

تشویش از مسلمانان :

حکومت کمونستی یوگوسلاویا اسلام را خطر عمده واساسی برای یوگوسلاویا وحتی تمام اروپا میداند وبه طرق مختلف میکوشد راه پیشرفت مسلمانان راسد نماید. چنانچه مجله دانش تاریخی ۱۹۸۹/۶/۲۷ انرا به تفصیل ذکر کرده که خلاصه ان چنین است :

الف : تشکیل دولت صربی مستقل درمناطق صرب نشین (صرب یکی ازمذاهب متعصب ارتودکس عیسوی است وفعلاً حکومت مستقل دارند) .

ب : توحید تمام اراضی صرب نشین خارج یوگوسلاویا مثل اجزا رومانیا ، البانیا وغیره مناطق که حکومت های سابقه انرا فراموش کرده اند .

انها فکر می کنند که تاهنوز خطر اسلام به اروپا موجود بوده واین حقیقت را جز اهل صرب کمتر مردم متوجه میباشد . این است حالت رقت بار مسلمانان دریوگوسلاویا که مشکلات انها بمرور ایام افزون می گردد ولی متاسفانه مسلمانان وکشورهای اسلامی علیه این ظلم وستم. سکوت اختیارنموده اند .



دریمه برخه :

عبدالوکیل

کمونیزم یا دظالمانو او انسانی نظام ته ابدیا

دکمونیزم په اقتصادي جوړښت باندې انتقادي نظر

په کمونستي اقتصاد کې دآزاد بازار نشتوالی:

په کمونستي دولتونو کې دخصوصي تولیدي مالکیت دنشتوالي له امله اوداچې ټول اقتصادي کره وړه دهغې جملې څخه سوداګري هم دکمونستي دولتونو په انحصارکې ده نوځکه دغه مهم عامل یعنې دکورنې اوبهرنې آزاد بازار نشتوالی دتولید پرکمیت اوکیفیت باندې منفي اغیزې غورځوي.

څرنګه چې په کمونستي هیوادونودهغې دلې څخه په روس کې بازار ته دجنسونو عرضه ددولتي مرکزي پلان په اړوند صورت نیسي نودیوې خواهغه کمسیون یاګوندي اودولتي ډله چې په بازار کې دعرضه اوتقاضا تناسب ټاکي دیو شمیر اشتباهاتو سره مخامخ کیږي اوپه دقیق ډول سره یې ځکه نشي ارزیابي کولی چې دسوداګری یاراکړې او ورکړې له بهیر څخه لیرې اویوازې دسوداګری دځنګل څنډې هغه ونې وینې دکومو چې ترشالوی اوناپایه ځنګل پروت دی په نتیجه کې دپانګې په دوران کې نیمګړتیاوې رامنځ ته کیږي دبلې خوا که فرضاً قبول کړو چې نوموړی کمسیون په بازار کې دعرضه اوتقاضا تناسب په دقیق ډول سره ارزیابی اوتعین کړي اوبیا اړونده تولیدي مؤسسو لپاره پلان ترتیب اووسپاري په دې صورت کې کله چې دتقاضا سره مطابق تولید شوي جنسونه بازار ته عرضه شي بیاهم څرنګه چې داعملاً په ثبوت رسیدلي اودعرضه اوتقاضا یوقانون ګرځیدلی دی چې عرضه اوتقاضا ثابت حالت نلري اودانسانانو دخواهشاتو اوضرورتونو درفع کولو په اړوند یکې تغیرات رامنځ ته کیږي یعنې دیوشمیر اجناسولپاره تقاضا زیاتیږي اودبعضو لپاره کمیږي څرنګه چې دکمونستي دولتونو تولیدي مؤسسې دهغه‌کلني پلان سره سم خپلو تولیداتوته دوام ورکوي کوم چې دمرکزي پلان په اساس ورته تعین شوي وي نوپه دې صورت کې هغه جنسونه چې تقاضا یې شدت موندلی وي نسبتاً زرپلورل کیږي اودپیرودونکو تقاضا نشي پوره کولی اودروس په شان

دقطارونوبازار تري جوړيږي (په روس کې دايوه معمولي پروسه گرځيدلي ده اودبازار په هره کوڅه کې دپيروډونکو دانتظار قطارونه ترسترگو کيږي يعنې يوشمير جنسونه دبازار دتقاضا په تناسب خورا لږ عرضه کيږي).

همدارنگه ديو شمير جنسونو تقاضا دمختلفو عواملو په اساس کميږي په داسې حال کې چې توليدي مؤسسې بايد دورکړل شوي پلان سره سم خپلو توليداتو ته دوام ورکړي اوځرنگه چې دکمونستي هيوادونو توليدات دتقاضا له دوامدار اومنظم تعقيب څخه ندي برخمن نوځکه که په بازار کې يو شمير جنسونه نه پيداکيږي بيا نو ديوشمير نورو جنسونو څخه دهغوی دتقاضا دکموالی له امله انبارونه جوړيږي اودنه خرڅلاو له امله دوخت په تيريدو سره جنس خپل اصلي کيفيت له لاسه ورکوي اوورستيږي او روسان هغه دلاتيني امريکا ،آسيا اوآفريقا په يوشمير هغو وروسته پاتې ساتل شويو هيوادونو باندې خرڅوي چې دروسانو سره اقتصادي او سياسي اړيکي لري او روسانو دهغوی په دولتي دستگاه ؤ کې نفوذ کړی وي او يايې کله ناکله دسره صليب له لارې دطبيعي حوادثو تاواني شويو کسانو ته ورکوي په دې ډول سره کمونستي استبداد اواستعماري څيره اوماهيت په ور ستو شويو جنسونو پټوي چې په واقعيت کې دطبيعي حوادثو په واسطه ځپل شويو ولسونو ته دتوهين اوحقارت په سترگه کتلو مفهوم لري .

په غير کمونستي توليدي شيوه کې (دخصوصي مالکيت دموجوديت په صورت کې) دهرې توليدي مؤسسې درلودونکي پانگو الان دبازار سره دايمي او نه شليدونکي اړيکی لري اوخپل توليدي پلانونه دخپلو امکاناتو اوپه بازار کې دتقاضا په نظر کې نيولو سره طرح کوي اودتقاضا دتغير په صورت کې خپلو توليدي پلانونو ته هم تغير ورکوي اودوی دتوليدي پلانونو په واسطه په دوامدار ډول سره تقاضا تعقيبيږي اودبازار اوخلکو دنيازمندی اوتقاضا په نظر کې نيولو سره خپل توليدي پلانونه عياروي .

ددې په څنگ کې دغير کمونستي هيوادونو نوښتگر اوماهر کارکوونکي اوپوهان په مادي اومعنوي ډول تشويق کيږي اوپانگوالان ماهروکارگرو اوپوهانو ته په خپلو توليدي مؤسسو کې برخه ورکوي اوپه معينه فيصدي سره يې په خپله پانگه يا توليدي مؤسسه کې شريکوي په دې ترتيب سره دتوليداتو دکميت اوکيفيت لوړ تيا دتوليدوُنکو په ژوند کې مستقيم اومثبت تاثيرات لري اودتوليداتو اوپه مجموع کې دټولنې په اقتصاد اوټولنيزه ترقی کې په زړه پورې رول لوبوي .

دتوليدوُنکو استقلاليت :

په غير کمونستي توليدي شيوه کې کارگران يا توليدوونکي اوپوهان دبشپړ استقلال اوخپلواکی څخه برخمن دي اوهرچيري اودهرچاسره يې چې کارکول زړه غواړي کوي يې اوپانگوالان هم هغو کارکوونکو اوپوهانو ته چې دتوليد په کميت اوکيفيت کې مثبت اورغنده رول لوبوي په مادي اومعنوي امتيازاتو قايليږي پدې توگه دتوليدوونکو اوپوهانو نوښت اوتوليدي قدرت په گړندي خوځښت راولي چې په نتيجه کې دهغوی دابتکاري اوايجادوونکی قوې دلاغوړيدو سبب کيږي خوپه کمونستي توليدي شيوه کې ټول کارکوونکي اومامورين بې له قيد اوشرط څخه په مستقيم ډول سره په دولت پورې تړلی دي اوبې له دولتي کار څخه دژوند کولو هيڅ ډول امکانات نلري (په روس کې له

شپږو میاشتو څخه زیات بې کاره گرځیدل قانوناً منع دي)اودا په کمونست گوند اودولت پورې اړه لري چې تولیدوونکو او مامورینو ته څه بول اوپه کومو شرایطو کارسپاري چې داعمل دهغوی دکار اونوښت روحیه له منځه وړی نو په کمونستی هیوادونو کې بې له دې چې پرتولیدوونکو اومامورینو باندې په جبراوزور سره کاروکړي بله لارنه پاتې کیږي همداوجه ده چې روسان په زیات خو خراب کارکولو چې نوښت اوعالی کیفیت پکې وجودنلري مشهور شویدي خوځرنگه چې دنړی نسبتاً زیاته برخه اوطبیعي منابع یې غصب کړي دي همدارنگه دخامو موادو خرڅلاو اووسلو جوړلوته یې زیاته پاملرنه کړې اود میلیونونو ولسونو ښکیلاک اوزبیښناک داامکان په لاس ورکړی چې داقتصادي رشد دپه تپه دریدو څخه ځان وژغوري اوبالاخره ټولې نړۍ ته ځرگنده شوه چې دکمونستي هیوادونو تولیدوونکي اوټیټ رتبه مامورین د عمري اوشاقه کار محکومو بندیانو په څیر ژوند کوي .

په آزاد بازارکې سیالی:

څرنگه چې غیر کمونستي هیوادونه دآزاد بازار درلودونکي دي نو تولیدوونکي اوپانگوالان هڅه کوي ترڅو داسې جنسونه تولید اوعرضه کړي چې ښکلي اوعالي کیفیت درلودونکی وي ترڅو دتقاضا کوونکو خوښ شي، زر اوپه لوړ قیمت وپلورل شي او دهغوی دپانگې دوراني حرکت نور هم گړندی شي.دآزاد بازار داخصوصیت چې په خپل ذات کې دپانگه والو اوهم دوړو او غټو خصوصي تولیدوونکو اوپه مجموع کې دټولو تولیدي مؤسسو ترمنځ دسیالی پر بنسټ ولاړ دي ، دتولیداتو دکمیت اوکیفیت په لوړوالي کې جوړوونکی اوټاکونکی اثر اچوي اوپه نتیجه کې داقتصاد اوټولنې په پرمختگ اودژوند دسطحې په لوړولو کې بې ساری رغنده رول لوبوي په داسې حال کې چې دکمونستي هیوادونو اقتصاد له دغه مؤثر اورغنده فکتور څخه محروم دی .

بهرنی سوداگری :

دکمونستي هیوادونو بهرنی سوداگری هم یوازې ددولت له خوا صورت نیسي او ټولې لارې چارې یې په کمونستو دولتونو پورې منحصرې دي دایوځرگند اونه انکار کیدونکی حقیقت گرځیدلی دی چې کمونستي دولتونه دهغوی ترسلطې لاندې ولسونو دخواهشاتو او اړتیا وُ دپوره کولو په خاطر کافی اودقناعت وړجنسونه نشي تولیدولی اودبهرنیو غیر کمونستي هیوادونو تولیداتو واردولو ته چې ددولت له خوا صورت نیسي په ډیرې محدودې اندازې سره اجازه ورکوي نو دکمونستي دولتونو تولیدات دټولونو اوکیفیت په اړوند دغیر کمونستي خصوصاً دپرمختللو پانگوالو هیوادونو په تناسب په خورا ټیټه درجه کې قرار لري اوتقاضا کوونکي دمجبوریت له مخې دهغوی رانیولو ته اقدام کوي.

دکمونستي هیوادونو خلک دیوې خوادباندنیو هیوادونو خصوصاً پانگوالو هیوادو له تولیداتو سره چې دکمونستي دولتونو دتولیداتو په نسبت له هره اړخه عالي اوښه دي اشنایي لري اودبله اړخه کمونستي دولتونه دبهرنیوجنسونو په واردولو باندې بندیزونه لږوي نودکمونستي هیوادونو خلک یې دهغوی رانیولو ته لانور هم تږي کړي دي تردې چې په رواني لحاظ یې هغومره خوار کړي دي چې هربهرنی جنس ددوی لپاره بهتر اودقبول وړدی اودانه یوازې له دې ا ړخه چې څومره عالي کیفیت لري بلکه په دې لحاظ هم ورته په زړه پورې دي چې بهرني دي ددوی ته

خپل هرڅه بد اوخراب ښکاري اوددې په عکس دبهرنیو او غیر کمونستي هیوادونو تقریباً هرڅه ورته بهتر اوعالي معلومیږي .

په کمونستی هیوادونو کې دغه اودې ته ورته نور بې شمیره محدودیتونه دي چې هغه جنسونه کوم چې کمونستي هیوادونو ته دمختلفو لارو څخه داخلیږي (دبهرنیو غیر کمونستي هیوادونو محصلین هغه چې کمونستي هیوادونو ته دتحصیل په نوم ځي همدارنگه هغه کسان چې دکمونستي دولتونو څخه بهرنیو هیوادونوته داجنټوری کارونو په خاطر دسفارتونو کارکوونکو ، مشاورینو ، کارپوهانو ، قونسلگریو ، تور یستانو او نورو پرلو لاندې لیږل کیږي ، کمونستي هیوادونو ته دغیر کمونستي هیوادونو یو شمیر تولیدات هم دځانو سره وړي ...) دکمونستي هیوادونو اوسیدونکو لپاره خورا په زړه پورې اوبې شمیره پیرودونکي لري اوداحالت دې مرحلې ته رسیدلی چې یو شمیر اشخاص یوازې دغیر کمونستي هیوادونو خصوصاً دپرمختللو پانگوالو هیوادونو مارک (بیلوونکي علامه) پیري اوبیایې دکمونستي هیوادونو پرجنسونو باندې نصب کوي په دې صورت کې دکمونستي هیوادونو هغه کم کیفیته جنسونه پرکومو چې ذکرشوی مارك نصب شوی وي دپرمختللو پانگوالو هیوادونو دتولیداتو په نوم په خورا لوړ قیمت پلوري نو دکمونستي هیوادونو دغه اقتصادي تگ لاره (په کمونستي دولت پورې دسوداگری انحصار) ددغو هیوادونو اوسیدونکو ته درانده رواني اواقتصادي زیانونه رسوي اودتولنې دگړندي پرمختگ په مقابل کې خنډونه رامنځ ته کوي.

بهرني پانگه اچونه :

غمش رابردل مادر سپردند

***

«منیبم » گر نمودم سهو ونسیان
خدایا باعث قهرت مگردان

وطن

استاد «خلیلي»

زیبا وطن جنت دنیا وطنم — اي غرقه خون واشك تنها وطنم
من جزتو دگرنام نیارم برلب — اي واوطنم واوطنم واوطنم

لنډه کیسه

هغه چې زموږ ویاړونه یې ژوندي ساتل

ع ، ص

داځل مې په ټینګه دهغه دلیدو تکل کړی و ، ژمنه مې کړې وه چې ټول کارونه به پرېږدم اودهغه لیدوته به ورځم، دی تلوسې اوهیلې زه داوږدې مودې راهیسې سوزولم ، دهغې ورځې راهیسې چې دده غږ زما دغوږونو پردې تخنولې وې :

کرملینه نن دبیا وخت دزوال راغلی دی
میدان ته شه لښکردذوالجلال راغلی دی

دې غږما کې نوې جذبې او نوې مینې راژوندۍ کړې ، زه یې بلې دنیاته دځان سره بیولی وم ، تردې وروسته به هره ورځ زما پرخوله دده همداشعر و ، په هرمجلس کې به چې کیناستم دده دشعر صفت خبرې به مې په خوله جاري وې ، هغه زما زړه خپل کړی و ، کورپه کوراودوکان په دوکان به ګرځیدم اودهغه داشعارو کسټونه به مې پیداکول ، دهغه هر کسټ به مې چې واوریدمینه به مې ورسره دوه چنده شوه ، داسې هم نه وه چې یواځې زه وم چې دهغه کسټونه او اشعارمې اوریدل دهغه اشعارو ډیر خلك په خپلې لمن کې رانغاړلي وو، په هرکورکې دهغه شعرونو دخلکو له سترګو اوښکې څڅولې وې ، دپکتیا ولایت دجهاد په هرسنګرکې به دهغه اشعارزمزمه کیدل ، زموږ دشاوخوا کمپونو ، ځوانان ، سپین ږیري ، ماشومان اوښځینه ټولې دده له شعرونو او غږ سره اشنا وې ، دده ساده اوروان اشعار و چې زموږ دپلرونو ، میندو ، وروڼو او زامنو اتلولي ، ویاړونه او ویرونه یې ژوندي ساتلي و ځکه به ټول دده شعراوریدو ته لیوال وو ، خو زه یې بیخي خپل کړی وم ، کومه ورځ به مې چې دده کوم شعر او کسټ وانوريد بیخي سودايي به وم داسې فکر به مې کاوه چې څه مې ورك کړي ، دده شعرونه و چې ما خپله ورکه دنیا پکې موندلې شوه او څومره به مې چې دهغه سره مینه زیاتیده په زړه کې به مې دهغه دلیدو هیلې لاغزونې کولې هرځل به مې چې دهغه دلیدو تکل وکړ یو خنډ به پکې پیداشو خوداځل مې داسې تصمیم نیولی و چې که هرکار راته پیښ شو پرېږدم به یې اودهغه دلیدو لپاره به ورځم دهغه سره به دزړه خواله کوم اوترې پوښتم به کوم احساس دې چې تاته یې دداسې سوزه ډکو شعرونو ژبه درکړې ، ټوله شپه کې مې همداپوښتنې دځان سره جوړولې ماوې ترې پوښتم به هغه عوامل راته وښیه چې ستاشعریې له دومره تاثیره ډك کړي

ماوی ورته وایم به اوریدلی می دی دځینو شاعرانو اوسندرغاړوچی په مینه کی ناکام شوی وی اوبایی مینتوب تیرکړی وی شعرونه یې ډیر له سوزه ډك وی او اوریدونکی زر تر اغیزی لاندی راولی ستا په وجود اوشعر کی کومه جذبه اومینه دخیله ده چی شعر دی دومره پر تاثیره دی ؟! ټوله شپه می په همدی ډول پوښتنو جوړولو تیره کړه اوچی سهارشو دهغه دلیدو په نیت له کوره ووتم په ټوله لارکی دده شعرونه راسره مل وه ، دده شعرونه می دشونډو لاندی زمزمه کول ، بیخی خپلی لاری ته می پام نه و ، بلی دنیا کی وم ، پوه نشوم چی په ټوله لارکی له چاسره مخامخ شوم اوچا سلام راته واچاوه خوډومره می په یاد دی چی دهیڅ چاسلام ته می دوعلیك ځواب ورنکړ ، ما دهغه داشعارو په سمندر کی غوپی وهلی ، زه دهغه دشعرونو سمندردځان سره لاهو کړی وم ، تاسو ته خو پته ده چی کله انسان داډول سمندر دځان سره لاهوکړی هغه بیا دځان پرته دهیڅ شی په فکرکی نه وی ، هغه بیا دځان سره لګیا وی ، بل چاته یی پام هم نه وی زه هم نن په ټوله لار همداسی شوی وم ، څو ځلی می په لار کی تیندکونه وخوړل ، دهغه شعرونو می ذهن تسخیر کړی و ، هغه ورځ می سترګو ته ودریده چی دده له شعرسره یی زه آشنا کړم پرده یی مین کړم ، زما په تن کی یی مړی ولولی اوجذبی راژوندی کړی دهغی ورځی لحظه لحظه می له سترګوتیره شوه دماشومانو او ښځو ژړا ، دسپین ږیرو دعاګانی چی خدایه روسی قواو ته ماته ورکړی ، دسپین سرو دعاګانی چی خدای (ج) ته مو زامن په خیر فاتح راستانه کړی او دژړا ګانو اسویلو اودعاګانو په دی فضا کی دهغه داشعر چی :

کرملینه نن دی بیا وخت دزوال راغلی دی
میدان ته شه لښکردنوالجلال راغلی دی

چی دپیکی له لوډسپیکرڅخه یی پر کمپ دفتحی ، صبر ، استقامت اوویاړونو څادروغوړاوه ، داشعر می څو ځلی دشونډو لاندی زمزمه کړموټر کی چی کیناستم ، دهغه داشعارو اولیدو له منګولو می افکار خلاص نشوه کړای ، دهغه شعرونه می دشونډو لاندی زمزمه کول اوهغه پوښتني می بیا ، بیا دځان سره تکرارولی کومی چی ماوی زه به یی تری کوم ، خو خوشحالی می لحظه په لحظه زیاتیده تاسو ته خو معلومه ده چی څومره مجنون دلیلا کور خواته نږدی کیږی هماغومره یی خو شحالی زیاتیږی ، دموټر په ټیپ کی هم دکوم سندر غاری کسټ غږیده خو زما هیڅ ورته پام نه و او نه هغه غږ پردی بریالی شو چی ما په خپلی لمن کی ونغاړی اونه هغه شعرونه داسی شعرونه و چی ماتراغیزی لاندی راولی ، ددی توانایی هم نه درلوده ځکه هسی تجارتی شعرونه و ، په دی پوه نشوم چی موټر په څو دقیقو کی هغه بازار ته راورسولم چی ددوی دکمپ تر څنګ و ، خو چی دموټر څخه کوز شوم هغه کړه ګوټه می تر نظر رانغله کومه به چی په دی بازار کی وه ، ډلی ډلی خلك دکمپ خواته روان و ، په بازار کی می یوی بلی خواته وکتل ما وی کوم خلاص دوکان به می تر نظر راشی خویو دوکان می هم خلاص ونه موند ، پر مخامخ دیوال باندی یوه غټ لګیدلی عکس دحان خواته کش کړم دعکس لاندی لیکل شوی و شهید احمد غنی ... سترګی می ومښلی ، ښه ورته ځیر شوم دځان سره ویوګنیدم :

شهید احمد غنی ... هغه چی زه یی لیدو ته راغلی یم ... بیا دهغه شعرونو دځان سره لاهو کړم دوه ، دری ځلی می دشونډو لاندی شهیداحمد غنی ... شهیداحمد غنی زمزمه کړل اوپه دی توګه می هغه ټولی جذبی او احساسات وموندل کوم چی دده شعریی له تاثیره ډك کړی و .

تکل

سید شهریار

قبرونه!

دلته نویښونکو وږمو ، وران ویجاړ
کلی اوړیو څو قبرونو نه پرته بل هیڅ
نه ؤ ددنګو ، دنګو غرونو په
ښایسته لمن کی دقبرونو ترڅنګ په
ګوه لویه ډبره ناست بوډا دنښی
منځ وویشت موږ هیڅ فکر نه کاوه
چی په زړوپیوندی جامو کی
نغښتی دغه پرهر، پرهر سپین
ږیری به له واقیعتونواو حقیقتونو
څخه داسی پرده پورته کړی چی
زموږ ستړی قافله به ورته ګوته په
غاښ پاتی شی :
په ډیره درنه وضعه له ډبری څخه
راپاڅیدله نوره ړک مخ یی له ږیری
غوسی څخه تك سور واوښت ویی
ویل داڅه وینی؟ داڅه کیږی ؟
اوداڅه اوری؟ اخر داولی اودڅه
لپاره ؟
نور خوپریږدی داماته وګوری
دڅومره ناخوالو اونادودو له ترخو
څپیړو څخه وتلی یم که زړه می
چاراوسپړه نودترمو ،ترمو اوښکو
بارانونه به واوری ولی په حق ګوته
کیښودل کیږی ؟
ایامابد کړی ؟ نه ماخوځکه بدندی
کړی چی مادظالم جابر اوسړیخور
دښمن وسپنیز ګیروان ته خپلی
زیږی منګولی وراچولی دی زه به
یی ترهغی لاس له ګریوانه ونه
باسم ترڅو چی می دده زهرجن
بوزغلی له دغی پاکی اوسپیڅلی
خاوری څخه ویستلی نه وی
زمالاسونه اوزما وجود پل په پل
زخمی زخمی اوپرهر پرهر دی یوی
خوا اوبلی خوامی قام قبیل خپل
خپلوان ، عزیزان ، اودوستان
پخپلو زخمی بدنو دخونخوار
زبرځواك دمقابلی لپاره ترڅو پخپله
اسلامی اوپتمنه خاوره کی یرغلګر
دښمن راوپرځوی مخ په وړاندی
روان دی له شانه راپسی دخپلو
کونډو ، رنډو ، بورو، ورارو یتیمانو
اوزخمیانو هغه سوی کړیکی دی
کومی چی می په غوږو کی انګازی
کوی خو زه دومره جرات نشم
کولای چی ددوی پلو وګورم اونه
ددوی پلوکتی شم زه ددوی په سرو
وینو کی ددوی لتی تکول نشم

زغـمـلای ، زه دلوی فـریـادونـه
زګیروی اوسلګی نشم اوریدی ځکه
نه چیری له ډیره غمه وارخطا شم
اودسپیـخـور وحـشـی دښـمـن لـه
ګـریـوانـه مـی لاس راووځـی زمـا
سترګی په هـمـدی روښانه کیږی
چـی زه سـری لـښـکـری اودلوی
بهیځی پخپلو ناولو وینو کی لیت
پیت ووینم :
زمانظر چی پخپل وران ویجاړ اوپه
کنډروبدل شوی هیواد پریوځی نوله
ډیره قهره می په سرکی ماغزه
وخوټیږی ځکه زمادګل په ځیر وطن
زماکله په داسی بده ورځ پیرزو
کیده ماخو داوطن دخوږ لاس په
ځیر ساتلی ؤ ماخو داوطن لاپخوا
داستعمارچیانو دناولو پنجو څخه
دتن په وینو ژغورلی ؤ ماخو پدی
لرغونی هیواد کی همیشه دپردیو
قدم په توره وهلی ؤ ماکله دپردیو
غلامی زغملی شوه زه خویواځی
اویواځی دلوی خدای (ج) غلام وم
نور خوزه له ازله خپلواک پیداوم
خواخر دااوس ولی ؟ اودادځه لپاره
؟ اخر دا مخونه ولی بدلیږی نن په
یوه ځیره اوسباپه بله :
ماته ګردی نړۍ شاباسی نه راکول
ماته یی په سوغاتونو کی افرینونه
نه رالیږل ؟ زه یی په ملانه ټپولم ؟
نواخـر زه بدل شـوم اوکه ظـالـم
دښمن ؟ نه یوهـم نـه :موږ دواړه
نړۍ ته پخپلو خپلو ځیرو عیان
یوخو . . . .
اوس چی زه دخپلواکی په درشل
کی قدم ږدم نو خپل اوپردی می له
غبرګو پښو څخه رانیسی ترڅو
شـرمـیـدلـی ، مـاتـی خـوړلـی
اوراپـرځـیـدلـی دښـمـن تـه مـی
راوپرځوی کلـه ناکلـه خومـی په
زخمی زخمی بدن له یوی خوااوله
بلي خواهـم دغشی ګذار نیم وشی
خـوزه بـیـاهـم لـه ځـایـه نـه یـم
خوځیدلی ځکه چی غیرت زماپه
خته کی اښکل شویدی .
حـیـران پـدی یـم چـی داولـی ؟ او
دچادلاسه ؟ اسلام دښمنه که راته
په یوه مورچه کی دریږی خوخیر
خپلی نړۍ دوستی ا واشنایی سره
پالی خوزما خپل دکلمی وروڼه ولی
له ماسره جفا کوی ولی ددښمن په
دسیسو عمل کوی ؟ ولی یی هول
تـه نـڅـا کـوی ؟ اوولـی مـی دتـن
اووطـن قـاتـلانـو سـره پـه یـوه
دسترخوان کینوی ؟
ایا زما دشپاړسوو شهیدانو زامنو
قبرونه نه وینی تاسی ورته وګوری
څومره ښایسته بیرغونه پری ولاړ
دی دغره ښایسته لمنی ته څومره
ښکلا وربښی تاسی زما کلی ته
وګوری دادانسانانو داوسیدنی دی
ور شـی وګـوری لـوخ لـپړ لـمـسـی
اوتـورسـری اننګـیـنـدی مـی پکـی
دروښانـه سـهـار پـه امید شـپـی
سباکوی :
په هـمـدی خبرویی زموږد ستړی
قافلی دهر یوه تن دسترګو دتږمو
اوښکو بندونه راوشکول چی یوی
خوا اوبلی خواته یی زموږ په خوږ
پرو مخونو کی لاری وویستی اوس
مولږه دمه سازه شوی وه اودپښو
څریکی موهم لږي غلی شوی وی :
له خدای پامانی وروسته مو ګردنی
غاړی اوتوپك اوږو ته کړه په تلو تلو
کی موڅو څو کرته دبابا مخ ته په
ځیر ځیر وکتل اودنویو امیدونو
اوارزوګانو سره یو ځای مو دخپل
منزل په لور حرکت پیل کړ :
له شانه راپـسـی بـابـا پـه زوره
غږ کړ له مخـــــی موړنا شه او
بری موپه نصیب شه بری موپه
نصیب . .

عوض الدين « صديقي »

زمونږ ادبي بحث

لنډۍ دجهاد په لسيزه کې

گرانو لوستونکو :
دمجلي کارکوونکي هيله لري له دي وروسته دادبي پديدو اودهيواد دادبياتو اوپه تيره بيا دجهادي ادب په اړه تحقيقي مطالب خپاره کړي له خپلو ټولو درنو ليکوالو ووږنو څخه چي په پاکستان اويا بهر کي دي هيله من يوو چي پدي اړه دخپلو علمي اوتحقيقي مقالو په رالېږلو سره موږته وياړ راوبخښئ .
(اداره)

راشی داځل دټولنی نبض دپرګنو په شعر کی مطالعه کړو . دجهاد وياړونه اوويرونه ، ساندی اوسرورونه دشعر ترټولو سپيڅلی صنف «لنډيو » په سيوری کی وګورو ، وګورو زمونږ لنډيو چی دمينی ، ګودر ، وفا ، پښتنولی او . . . . .

سنګر خپل کړی دجهاد په ميرو کی يی آس ترکومه ځغلولی ، که يی ددنګو ،دنګو غرونو دپټو مينو رازونه راسپړلی ، که يی دپښتنی ټولنی دودونو اوکړووړو انځور ګری کړی اوکه يی دپښتنی پيغلی دخصوصياتو نمايندګی کړی ، ايا داتلانو دتوری خرپا يی هم غوږونه تخنولی که نه ؟ دپيغلو ، ميندو او . . . . فريابونو هم ژړولی که نه ؟ اوداتلانو دستايلو اوغدارانو دغندلو جرس يی هم غږولی که نه ؟

لنډی شعردی اودشعر په ټولګی کی يی هم بيا ځان دسپيڅلتيا ، معانی اوريالیزم په داسی ښايسته جامه سينګارکړی که يی دتاريخ په ټله ټلی ترټولو سوچه تاريخی حقايق دځان سره لری اوکه يی دهنر په ټله ټلی ترټولو ښه هنری ارزښتنو يی خپل کړی .

لنډی دټيکی ، مصری ، ټپه ، اواز ، بدله اوسندری په نامه هم يادوی که په يوه ځای کی يی لنډی بولی په بل ځای کی دمصری په نامه پيژنی اوچی بيا کله په سروکو اونيمکيو کی راشی دټيکی په نوم يی يادوی .

لنډی زمونږ دپرګنو داحساساتو او زړونو ترجمانه ده لومړی مصری يی ۹ سيلابه اودوهمه يی ۱۳ سيلابه وی .

دلنډيو غږ له ډيرپخوا څخه پورته شوی ، کله دپسرلی ملايمو وږمو زمونږ دټولنی پر دالانونو ګرځولی ، دخلکو خولوته يی غورځولی اوبيا سينه په سينه بل نسل ته رسيدلی اوکله هم دفنا طوفان دځان سره الوزولی اونابودی پرسيند يی لاهو کړی .

دلنډيو دزيږيدو نيټه په دقيقه توګه نه ده معلومه ، ځنی دپوهاند عبدالحی حبيبی پر نظر استناد کوی او وايی لاندنی لنډی ديوی تاريخی پيښی په باره کی موږته معلومات راکوی او زرګلن عمرله لری :

چـــی دخـالو لـــښـــکری راغلی
زه به ګومل ته دخپل ياردیدن ته ځمه

«ګومل» د«روه» دغرونو په سلسله کی يوه مشهوره دره ده چی دهند دفاتحينو لار او «ملك خانو» دسلطان محمود غزنوی په زمانه کی ، دپښتنو له نامتو سردارانو څخه و چی «خورشيدجهان» او« سعادت خان توترين » (فضايل السعادت) هم دده نوم دهغه عصر دلويو سردارانو ټولی کی

سنودلی ، دپوهاند حبیبی دڅیړنې په اساس چې لنډۍ زر کاله پخوا موجودې وې اودالنډۍ دپنځمې پیړۍ په لومړیو وختونو کې ویل شوې .
ځنې بیا د«جونزانولډسن » پرنظر ټینګ ولاړدی «انولډسن » وایې دپښتو لنډیو تاریخ دریګویداد سرو د ونوله زمانې (۹۰۰ –۱۵۰۰ق م) سره برابر دی ، هغه دالنډۍ :

سپوږمیه سروهه راخیژه

یار می دګلو لو کوی ګوتی ریبینه

دارياپانو دهغه دود محصوله بولې چې دسپوږمۍ په رڼاکی به یې دسوما ، هوما ، اومه اونمه بوټی ریبل اوبیا به یې دسوما شراب تری جوړول .
لنډۍ زموږ لوګړو دزړونو ترجمانه ده اوټل یې زموږ وګړو سره په غم اوښادی کی اوږه په اوږه ګام پورته کړی ، که چیرته دښادی جرس غږول شوی ، لنډیو بیاهلته دورفشانی کړی ، وږمی یې خپرې کړی اودمیناتو دز ړونو ترجمانه ګرځیدلی .
اوکه چیرته بیا کوم یرغلګر پر هیواد تیری کړی اوهلته بیا توری پرقول شوی لنډیو هم خپل غږپورته کړی اودغازیانو متی یې لاغښتلی کړی .
لنډۍ دخپل ژوند په بهیر کی زموږ دټولنی ډیری ټیټی جګی دځان سره رانغاړلی اوهره لنډۍ دخپل وخت ، زمان ، چاپیریال اوپرګنو دکړووړه هنداره ده خوموږ دلته دهغو لنډیو په باب لږ تأمل کوو چې دتورو دپرقا په وخت زموږ له پرګنو سره مل شوی .
که دلنډیو تاریخ اودوډی سیر په دقیقه توګه وڅیړل شی ګورو چې کله هم «سلطان محمود» آس د«هند» پرلور زین شوی ،لنډیو هم ورسره ځان ملګری کړی :

چی دخالو لسبکری راغلی

زه به ګومل ته دخپل یار دیدن ته ځمه

دلنډیو څیړونکی وایی دالنډۍ ترهغی وروسته چی سلطان محمود غزنوی په هندکی دفتحی جنډه ورپوله ، یوی پیغلی دخپل یار لپاره ویلی چی هغی دزړه سبه ترجمانی کوی .
اوبیا کله چی «محمد جان» خان غازی په (۱۸۷۹) م کال کی دکابل په سنارکی دانګریزانو ددوهم تیری په مقابل کی مقاومت توغ پورته کړ ، دهری لوری ورته دعقیدت پیرزوینی ورانډی شوی ، دالنډۍ دهغه حالت سبه عکاسی کوی :

محمد جان خان غازی چی راغی

دادووس خان په بمبولی کی پټیدنه

همدارنګه کله چی په (۱۸۸۰) م کال کی ځوانانو په «میوند» کی پر انګریزانو وروداننګل اوترډیرو ډغرو وهلو وروسته نږدی وُچی افغانان په شاشی ، وایی لاندی لنډۍ وه چی ځوانان یی لاجنګ کولو ته وهڅول اوافغانان په دی بریالی شول چی دانګریزانو پوزی له خاورو سره ومښی

که په میوند کی شهید نشوی

خدایږو لالیه بی ننګی له دی ساتینه

لنډۍ په ډیره سوچه توګه دټولنی حالت په خپلی لمن کی رانغاړلی ، ګام په ګام زموږ وګړو سره راروانه ده اودهغوی دکړو وړو عکاسی کوی .
که «جمیزدارمسستتر » یی په اوربل کی د«ورځپانی» ګل ورتومبلی اودورځپانی په بڼه پکی دپښتنو دماحول ورځنی پیښی لټوی اویاهم پراروپایانو غږ کوی چی یواځی ولسی ادب دی چی کولی شی موږ ته دپښتنو دزړه راز رابرسیره کړی ، نو «کار سیالورکا» هم زموږ دبی سواده پرګنو هست کړی شعر سورطبیعی ګل او دانور شعرونه کاغذی ګلان بولی .
لنډۍ زموږ دپرګنوزړه ته لارموندلی او دهغوی پټ رازونه راسپړی ، که کله هم په کلیو اوباندو کی دمینی پټ پټونی شوی اویاهم په سنګرونو کی ځوانانو یرغلګرانو ته ګوتڼی وهلی لنډیو دی پټورازونو او قهرمانیو ته په خپله غیږ کی ځای ورکړی ، هغه یی دخلکو خولی ته غورځولی شور اوزوږ یی جوړ کړی اونور نسلونو ته یی پریښی .
اوس هم کله چی موږ دجهاد دلسیزی لنډۍ مخی ته اچوو دخوینو ، مینو کړیکی ، دټپیانو اسویلی ، دروسانو کوکاری اوتیښتی صحنی مو مخی ته دریږی ، لنډۍ دی چی نه پریږدی دسکږ راکښونو ګردونه دروسانو دټانکونو دچینو نو لومړیو ورځو خاپی پټی او ورکی کړی ، که یی دکارمل په روسی ټانکونو سپور راتګ غندلی ، دروسانو دوحشیانه بمباری ، ماتی اوتیښتی صحنی یی هم خوندی کړی:

دوطن فروش کارمل له لاسه

روسان کوروته ورانوی ، مالونه وړینه

***

دسکندر چی زړه تری شین و

په هغو غروکی نن روسان په ژړادینه

دلنډيو يوه ځانگړتيا داده ددی په خاطر چی دټولنی دعامو خلکو خاصاً ښځو له خواويل کيږی هم الفاظ او هم حقايق ډيرسوچه پکی پييل شوی وی ، اوداهغه صفت دی چی دادب نور صنفونه يی په خپلی لمن کی له رانغاړولو عاجزدی .
دادب دنورو صنفونو يوه نيمگړتيا داده چی نشی کولی په سوچه اوريښتينی توگه دخلکو زړونو ته لارومومی دهغوی دنفس اودزړه دتل ترجمانی وکړی ، خو لنډی داجوهر لری چی دپرگنو دزړه راز راوسپړی ، ښايی ظاهراً دپښتنی ميرمنی په اننگو هغه وخت چی خاونديی دجهاد په لور ځی اوښکی راروانی شی ، سلگی به يی په مخه کړی خو دژړا اوخپگان په همدی حالت کی يی هم دزړه غوښتنه اوهيله بله ده:

تـوتی ، تـوتی په توروراشی
دبـی ننځی اواز درامشه مينه

ياداچی :

توری ته ژوند کی چی شانه کړی
ملالی نجونی به پيغور درته کوينه

***

جـــانـــانـــه ځـــه !پـــه کابل جنگ دی
په اسلام ننگ دی ، په دښمن وکړه بريدونه

داهغه پټ راز دی چی دمايوسی اوخپگان په حالت کی لنډی دپښتنی ميرمنی له زړه راباسلی اوهغه يی دخلکو خولی ته غورځولی .
ديرغلگرانو سره ډغری وهل ، که شهادتونه اوورانی له ځان سره لری اتلان اوقهرمانان هم زيږوی ، که دپرگنو په شعر کی ، دمغلانو په مقابل کی دپيرروښان اتلولی ستايل کيږی يادانگريزانو په مقابل کی محمد جان خان ته دعقيدت پيرزوينی وړاندی کيږی دجهاد دلسيزی اتلان اوقهرمانان يی هم له ياده نه دی باسلی :

«حـــقانـــی » دتـــوری شـــرنـــگ دی
په روسی شوبلو باندی بل دی سره اوروونه

دکومی ناروغی نه چی خوشحال بابا د :

اتفاق په پښتانه کی پيـدا نـشو
گڼی مابه دمغل گريوان پاره کړ

ساندی اوکړيکی کړی وی ، اوس يی هم زموږ وگړی په کړيکو کړی سره له دی چی افغانانو روسان ټوکر ، ټوکر کړل ، دنړی ديوی استعماری قوت دنسکوريدو وياړيی وگاټه خو بياهم په بی اتفاقی کی ترستونی ډوب دی ، دغه حالت ټول ځوروی ، دژوند ټولو برخو ته يی غزنوی کړی ، دخلکو پر زړونو يی دمايوسی غشی اوروولی ځکه دی چی زموږ پرگنی دخوشحال بابا» سره خپل غږ بدرگه کوی اووايی :

دجـــهـــاد تـــيـرشـــول اووه کـــالـــه
خالقه خدايه اتفاق څـــوك نه کـــويـــنـه
چی د نفـــاق ږغ يی تـــرغـــوږ شـــی
دمجاهد په زړه کی بل شی سره اوروونه

دروان جهاد دلسيزی لنډی دجهادمستند تاريخ دی ښه تاريخ دی اوسـوچـه تـاريـخ دی ،کـه هـر څـوك غـواړی دجـهـاد پرريـښـتـيـنـی حـقـايـقـو ځـان پو ه کـړی حـتمـی ده چی «دارمستستر » سره به همنوا کيږی چي « ولی سندری دی چی موږ ته دپښتنو دزړه رازرابرسيره کو ی»

ببـــرکـــه داگـــتـــه دی بـــس ده
ژوندی اومړی دی وطن نه قـــبـــلـوينه
دافـــغـــانـــانـــو زور دی ولـــيـــنـد
چی په تش لاس دی زغـلوی ترکرملينه
دافـــغـــانـــانـــو لـــه غـــيـــرته
روســـانـــو واستول دســـولی پيغامونه
دڅـــرخـــی پـله زنـــدانـــه وران شی
وطن ميـــن ژنی ډير تـــاخـــوړلی دينه
دايـــمـــان زورنـــه دی نـــوڅـــه دی
چی دروس تور ټانکونه سری لمبی وهينه

***

تـــوتـــي تـــوتـــي په تورو راشي
دبي ننگي اواز دي رامه شه مينه

***

ماخذونه

١– دپښتو دشفاهی ادبياتو شکل اومضمون ، غوټی خاوری
٢– جونز انولډسن مخونه ،٢–٩ پيښور – ١٩٦٩ م
٣– جهادی لنډی (توريالی ځاځی) مخونه –١٩–٢٠ پيښور ١٣٧٠ هـ ش
٤– ويښی جذبی، روغ توپانونه (دجهادی لنډيو ټولگه) عوض الدين صديقی
پيښور (١٣٧٠)

انصار شاعران

ننگیال



شیخ، نورعلی نور دافغانانو دقربانیو او قهرمانیو انځورگر شاعر

ښاغلی شیخ نورعلی نور ځوان شاعر دی، دویښ ضمیر لرونکی شاعر دی او دافغانانو په درد درد مند شاعر دی. دی دبهادر کلی شاعردی،درحمان بابا دچم شاعردی او دپښتو ژبی داسی شاعر دی چی هم خوږ غزل ویلی شی او همٔ نظم په نری او له ستونزو ډکه لارهم په تیزی سره پل اخلی او دافغانانو دمقاومت او شهامت ترانی هم غږوی او پخپلو دغو ادبی تخلیقاتو کی دافغانی غازیانو دعظمت او قهرمانی او دشهیدانو دسپیڅلو وینود درناوی یادونه اویادگارونه خوندی کوی .

ښاغلی نور صوفی مشر به ځوان دی، دتصوف په لار روان شاعردی او دصوفیانه جذباتو خاوندلیکوال دی .

ښاغلی نورعلی نو ر په ۱۹۶۵ میلادی کال کی دپېښور په بهادر کلی کی دشیخ شیرعلی خان کره زیږ یدلی دی له وړکتوبه یی له شعر او ادب سره مینه وه او دښوونځی له وخته له ادبی محفلونو سره منسلك پاتی شوی او دسرحد پښتو ادبی ټولنی دغړی په توگه یی په ادبی فعالیتونو کی فعاله برخه اخیستی ده .

شیخ نورعلی نور په یوه روحانی او ستانه کورنی‌کی سترگی غړولی له همدی ځایه ده چی اسلامی مینه او جذبه یی په ادبی تخلیقاتو کی له ورایه ځلیږی ځکه خویی دافغانانو دجهاد او مقاومت بیلابیل اړخونه او ابعاد دخپل فن په غیږ کی نغښتی او ددغه برحقه جهاد دیوه پیاوړی مدافع او حامی په توگه دشعر او ادب په سنگر کی دریدلی دی .

نوموړی دجهاد پدغه اوږده موده کی له جهادی خپرونو سره له قلمی همکاری سربیره په ادبی غونډو او مشاعرو کی دافغانانودبرحقه مقاومت او داعیی ملاتړ کړی او دشعر په ژبه یی دافغانانو دمقاومت او قربانیو حماسی دهر چاړونو او غوږونو ته رسولی دی. ښاغلی نور علی نور دپپو له کالج څخه فارغ التحصیل شوی دپېښور

دپښتو اونیزی هیواد قلمی همکار پاتی شوی له سپیدی مجلی سره یی هم فعاله قلمی همکاری کړی او ګڼ جهادی شعرونه او مضامین یی په مختلفو خپرونو کی خپاره شوی دی .

نور علی نور خوږ ژبی شاعر او دادبی فعالیتونو لیوال ځوان دی، له شعر او شاعر ی پرته په ادبی څیړنو او پلټنو هم بوخت دی ښاغلی نور دسپیڅلو ولولو او پاکو احساساتو خاوند شاعر دی کله چی یی ولیدل افغانان دروسی وحشت له لاسه دخپل کلی کور په پریښودو او ګاونډیو هیوادو نو ته په هجرت مجبور شول نو ده ورسره دخپل سوځنده شعر په ژبه دهمدردی، خواخوږی او ملاتړاعلان وکړ- ده دافغان مجاهدینو بی سیاله مقاومت او قربانی پخپل شعری او ادبی سفرکی ځای په ځای منعکس کړی او دیادونو او یادګارونو څلی یی ودان کړی دی،ده دمهاجرو او انصارو ددینی او ادبی تړون او پیوستون یو ژوندی مثال قایم کړی او دانصارو ادیبانو او شاعرانو دهمدردی او خواخوږی په لارکی په پخواو درنو قدمونو مخ په وړاندی روان دی. راځی چی دښاغلی نور یو جهادی شعرسره ولولو

مجاهدافغان ته

افغانه ستاوینه ارزانه نه ده
داده توی شوی دوطن په مینه
ستاددی وینو په قطرویه همیش
ټـل دافغان ذره ذره کړی فخر
ای ننګیالیه ستانه ورو ستو کنول به
ستاپه میړانه همیشه کړی فخر
چی دوطن په مینه توی نه شی نو
بیاهغه وینه قدردانه نه ده
افغانه ستاوینه ارزانه نه ده
داده توی شوی دوطن په مینه
داچی دښمن په تاستم وروی
لاندی نه توپی پاس نه بم وروی
دابه لګیږی هم ددوی په خونو
که اوریه خاوره دی هر دم ورو ی
چی خپله وینه په وطن ورکوی
دښمن ته ګټه څه آسانه نه ده
افغانه ستاوینه ارزانه نه ده
داده توی شوی دوطن په مینه
افغانستان دآزادی دپاره
دهر افغان دخوشحالی دپاره
تاپه میدان کفن په سرتړلی
ځی ددښمن دتباهی دپاره
کومه نعره چی دجهاد کو ی ته
دغه نعره دتباهی جانه نه ده
افغانه ستاوینه ارزانه نه ده
دادی توی شوی دوطن په مینه
افغانه ستا دشجاعت په سبب
دپورته عزم او همت په سبب
روس غوندی قوم په تابری نه مومی
ستادمیړانی او غیرت په سبب
ته دوطن په مینه سرورکوی
داقربانی دی پټ پنهانه نه ده
افغانه ستاوینه ارزانه نه ده
داده توی شوی دوطن په مینه
اوس په میړانه کی یوځوان یادیږی
بیابه تاریخ کی دافغان یادیږی
یی به ژوندی که په وطن شهید شوی
بیابه هرځای کی هرزمان یادیږی
باغچه په وینو چی سیرابه نه شی
هغه باغچه بیخ له خزانه نه ده
افغانه ستاوینه ارزانه نه ده
داده توی شوی دوطن په مینه

«وفادار» اسلام اوهیوادته وفادار شاعر

«صدیقي»

گار سیالورکا » دولسی شعر په باب وایي « ملت زموږ دشاعرانو شعرونه لولی ، اما څومره ستر توپیر دی ددی شعرونو اوهغوشعرونو ترمنځ چی دخلکو پرګنی یې هستوی ! هغه توپیر چی دیوسور طبیعی ګل اودیو سور کاغذی ګل ترمنځ شته دی ، ریښتونی شعرونه خاوند لری داشعرونه لکه هغه توتکی دی چی دزمانی په بادونو کی غوړی وهی اوهرنسل ته خپل رنګ ورکوی اووروستیو نسلونوته یی پریږدی ...»

دهمدغسی ولسی شاعرانوله جملی څنی چی په ریښتینی توګه یی دخپل چاپیریال طبیعی ګلانو، پیښو، قهرمانانو اوکړووړو ته یی دشعرژبه ورکړی یوهم «وفادار » دی چی اصل نوم یی «سیدخان» او «وفادار» یی تخلص دی وفادار په ریښتینی توګه داسلام اوخپل هیواد په مینه کی «وفادار » پاتی شوی ډیر دوحشت توپانونه پری راالوتی ، دډیرو ګړنګونو اومرګونو سره مخامخ شوی خوله خپلی «مینی » یی لاس ندی اخیستی دشعر په ژبه یی دخپلی «مینی » کره وره ستایلی اودخپل چاپیریال ترجمانی یی کړی سبایی چی دشعرژبه به یی د«مرسل» دګل په شان زړه راکښونکی نه وی ، خوددی هڅه یی هم نه ده کړی چی دخپلو دنګو دنګو غرونو د«ملنځو» په اوربل کی د«مرسل» مصـــنوعی ګلان وروتـومـــبی ، هغه څه یی ستایــلی چــی دچاپیریال زیږنده ده ، اوپر هغه څه یی ویاړلی چی پرګنو یی دمتو په زور لاس ته راوړی :

چـی کـامیاب نشوی په توپواوپه ټانکونجیبه ——— ښنگه کامیاب به شی په سکړ و راکټو نجیبه
لاړ شه نور پریږده داوطن دیتیمانو کور دی ——— دادریسټـتینو اتــلانـــو فـدایانو کوردی
اخر به خلاص نشی انشاالله په جاړو نجیبه
ښنگه کامیاب به شی په سکړو راکټـو نجیبه

کامیاب به نشی داکه سکړلوی راکټونه لری ——— که ورسره په ښنگ کی میك په شان جاړونه لری
زربه ورکیږی له دی خاوری په شـرمو نجیبه
ښنگه کامیاب به شی په سکړوراکټـو نجیبه

کامیاب به نشی نن په سکـړو ټینگدا ـ نشی ——— سنگرزما دی ایمانی هیـڅ پری ختلی نشی
تیر ایستی نشی ماپـــه پټــوفــریبو نجیبه
ښنگه کامیاب به شی په سکړو راکټو نجیبه

نجیبه لاړ شه بل وطن ته نور مرگونه مه کړه ——— پریږده نور موږ خپلو غموته ډیر قتلونه مه کړه
غلامی پریږده ځان نور پوه کړه په سوچونجیبه
ښنگه کامیاب به شی په سکړو راکټـو نجیبه

نجیـــبه لاړ شه دی وطن کی اوسیـدلی نشی ——— سکـــړو په زور باندی نور وخت تیرولی نشی
موږ اوس پوه شوی یووښتا په دسیسو نجیبه
ښنگه کامیاب به شی په سکړوراکټــو نجیبه

اخر به دروهی ای نجیبه !شرمنده به لاړشی ——— غیرتی خاوره ده ، ددی نه پــه ژړابه لاړشی
سیدخان رسواکړی نن په دارنگه شعرونجیبه
ښنگه کامیاب به شی په سکـــړو راکټو نجیبه

«سیدخان » په (۱۳۳۹) کال کی د«پکتیکا » ولایت د«ارگون » ولسوالی د«زیړوك » علاقداری په «سوری » کلی کی سترگی غړولی اود«علی جان » په کهول کی رالوی شوی ، په (۱۳٤٦) کال کی ښوونځی کی شامل شوی تر ۸ ټولگی یی د «زیړوك» په متوسطی کی زده کړه کړی اوتر هـغی وروسته یی څلور کاله په کابل ،خوست ، زرمت ، اوځدرانو کی خپلودینی زده کړو ته ادامه ورکړی ،

سیدخان دځوانی ددوری راهیسی دشعر سره مینه کړی اوددی هڅه یی کړی ترڅو ددی مینی په لومه کی ونښلی ،هغه پخپله وایی :

«زه په ښوونځی کی زده کونکی وم چی دشعر سره می علاقه پیدا شوه ، زیات کوښښ به می کاوه چی ددی توانایی پیداکړم چی شعر ووایم ، بلاخره پر خپل دی هوډ بریالی شوم اوخپل لومړی شعر می په ۱۳٥٥ هـ ش کال کی هـغه وخت ووایه چی د «حقانی» صاحب سره داسلامی تحریك ملگری شوی وم اویوه (۷۰) کسیزه گروپ ته لومړنی نظامی زده کړی ورکول کیدی ،هغه شعر داسی پیل شوی ؤ»

کافران راغلل داسلام پردین بریدونه کوی
مســـلـــمـانان ویده دی واړه خوبونه کوی

«سیدخان » ددی سربیره چی دشعر ژبه یی خپله کړی او ددی تکل یی کړی ترڅوله دی لاری دخپل چاپیریال کړه وړه ، ویاړونه اوقهرمانی ، کړیکی اوساندی خوندی کړی له وسله وال جهاد یی هم لاس ندی اخیستی ، دشپو په دیرو تروږمو کی ددښمن پر تتر گولی چلولی ، لوږی ژوری لیدلی ، دکړاونو او ستونزو سره مخامخ شوی خوسترې شوی نه دی پرمخ تللی ترڅو داکاروان خپل منزل ته ورسوی .

سیدخان دخپل چاپیریال دلوړو ژورو ، دقهرمانانو او پرگنو دکړووړو ښه عکاسی کړی ، هغه یی په ډیره ساده ، سوچه اوروانه شعری ژبه خلکوته منعکس کړی دهغه په شعرکی موږ دپکتیا په ولایت کی دحق اوباطل ددغرو وهلو اومجاهدینو داتلوليو لاس ته راوړلو ډیری ښی بیلگی لیدلی شو:

جنگ دی په پکتیا شروع شوی ډیرجنگونه دی
تللی ډیر غازیان دی ورسره هم راکټونه دی،

جنگ دی په پکتیا
جنگ دی په پکتیا توردونونه پورته کیږی تل
کلی اوکورونه دی سوځیږی اورنگیږی تل
خدایه فضل وکړی جوړی حق ته ډیر چالونه دی
تللی ډیر غازیان دی ورسره هم راکټونه دی
جنگ دی په پکتیا
جنگ دی په پکتیا دټانگونو غرهار راځی
څمکه ده لړزیږی دتوپونو غرمبهار راځی
وسول سمی غرونه پکی بل نن سره اورونه دی
تللی ډیرغازیان دی ورسره هم راکټونه دی
جنگ دی په پکتیا
جنگ دی په پکتیا ، په سنگر کی تکبیرونه دی
ځاځي وینی سری نن پری رنگ شوی بیابانونه دی
راغله په هوا روسی سکهراکټونه دی
تللی ډیر غازیان دی ورسره هم راکټونه دی
جنگ دی په پکتیا

«سیدخان » د۱۳۵۸ کال دوری میاشتی په ۲۵ نیته پاکستان ته هجرت راکړی اوتردی وروسته نه داچی یواځی خپل وسله وال جهاد ته یی ادامه ورکړی بلکی دشاعری جذبو او احساساتو یی هم لاوده کړی ، هغه ډیر زیات شعرونه ویلی چی دده په وینا شمیر یی ۲۵۰ قطعوته رسیږی .

«سیدخان» پخپل اواز هم خپل اوهم دځینو نورو ولسی شاعرانو شعرونو په کستونو کی ثبت کړی اوهم یی ځنی شعرونه «خانمیر » چی دمنبع العلوم » مدرسی طالب دی کستونوته سپارلی ، دده له شعرونو تراوسه ۱٦ کستونه ډک شوی چی هم دمجاهدینو راديوگانی تری استفاده کوی اوهم دجهاد په گرمو مورچلونوکی دمجاهدینو دمورال اوچتولو اودسوزنده دښتو په کمپونو کی دمهاجرینو دحوصلی لوړولو سبب گرځی راځی چی داشعر یی سره ولولو :

کلی ، قام شو مهاجر وجگو غروته
ژړاگانی وی رنمی اوسنکی بهیدلی
ترینه پاتی کلی ، قام و جدایی وه

راخواره خونکار ټانکونه و دروته
دهرچاپرمخ به غبرگی ، غبرگی تللی
نوی ژوند و دهجرت هم ځان ځانی وه

جميل الرحمن «سائل»

حوادث داغ :



۱سرطان ، بی بی سی :

موسسه ملل متحد خواهان تشکیل یك اردوی مستقل گردیده تابتواند درحالات اضطراری ازان کار بیگرد . این تصمیم بعد از انتقاد عدهء ای از دول غربی درراس انهابریتانیه ، ازطرف این موسسه گرفته شده است .

۲سرطان ، بی بی سی :

بین حکومت وچریکان کامبوج بعد از دوازده سال جنگ موافقتنامه صلح به امضاء رسید ، همه اطراف ممنوعیت ورود هر نوع اسلحه به کشور شان را اعلام داشتند .

*** ***

ملك فهد درملاقات خویش با سوهارتو رئیس دولت اندونیزیا ، بعنوان تحفه نام «محمد »را برای وی برگزیده است . این اولین سفر سوهارتو به مملکت سعودی میباشد .

٤ سرطان ، بی ، بی ، سی :

شورای امنیت موسسه ملل متحد فیصله نموده تا عراق سی وپنج فیصد درامد نفت خود را بحساب غرامات جنگ خلیج بپردازد . قبلاً امریکا گفته بود که عراق باید نیم درامد نفت خود را بعنوان خساره جنگ بپردازد . ولی بعضی از اعضای شورای امنیت این مقدار را در شرایط کنونی برای عراق خیلی دشوار خوانده اند .

٦ سرطان ،صدای امریکا :

عدهءای ازرجال سرشناس روسیه که در زمره شان شیواردنادزه وزیر خارجه سابق روسیه نیز شامل می باشد میخواهند یك حزب جدیدی را در مقابل حزب کمونست روسیه تشکیل بدهند ونام انرا «حزب سوسیال دیموکرات » بگذارند .

این اشخاص میخواهند ازین طریق کمونستهارا شکست بدهند .

۷ سرطان ، صدای امریکا :

بعد از اعلام استقلال دو جمهوریت کروشیا وسلوانیا ازجمهوری فدرالی یوگوسلاویا جنگ شدیدی بین حکومت فدرالی وازادیخواهان درگرفته وعده کثیری ازبین رفته اند . حکومت امریکا گفته است که اگر این دو جمهوریت دراتحاد قبلی باقی بمانند امریکا خواهد کوشید تا ازادی های بیشتری برای انهابدست اورد.

۸ سرطان ، صدای امریکا ، بی بی سی :

نماینده خاص سرمنشی موسسه ملل متحد اقای بینن سیوان بتاریخ ۸سرطان وارد کابل شد تابا مقامات رژیم کابل در مورد حل مسله افغانستان مذاکره نماید

۸سرطان ، روزنامه مسلم :

مشاور خامنه ای اقای ابراهیمی اظهار داشته است که یك دفتر برای گروه های شیعه مقاومت افغان درمکه مکرمه باز شده است . وظیفه این دفتر خدمت مهاجرین وحجاج افغانستان خواهد بود .

۹سرطان ، تلویزیون پاکستان :

مبارزین مسلمان کشمیر درباره افسرربوده شده اسرائیل که مربوط سازمان جاسوسی «موساد» می باشد گفته اند که حاضرهستند وی رابه موسسه ملل متحد تسلیم نمایند، ودرعوض خواهان رهائی چند تن ازمحبوسین خویش از زندانهای هندی گردیده اند .

۱۰سرطان ، رادیوی امارات :

رهبر جبهه نجات اسلامی الجزایر اقای عباس مدنی ومعاون وی علی بلحاج از طرف مقامات امنیتی الجزایر بزندان انداخته شده اند. یك روز قبل عباس مدنی به حکومت الجزایر هوشدار داده بود که باید مقررات وضع شده نظامی را ملغی اعلان نماید، درغیر ان ، جهاد رابرضدحکومت شاذلی بن جدید اعلام خواهد نمود .

۱۰سرطان ، فرنتیر پوست :

اقای گلاوس جاکوبی وزیر امورخارجه سویس بتاریخ ۹سرطان وارد کابل شد ، وی بامقامات رژیم کابل جهت یافتن راه حل قضیه افغانستان مذاکره نمود چنانچه هیئت مذکور بارهبران جهادوهمچنان نمایندگان ظاهرخان نیزملاقات های انجام داد .

۱۱سرطان ، جرائد هندی :

بنابه گذارشات نشر شده درجراید هند ، ان کشور فرقه ۲۳ خویش را به سرحدات پاکستان منتقل نموده است . حکومت هند این کار را بخاطر تیرگی وضع درجمو وکشمیر نموده تامسلمانان کشمیری نتوانند از سرحدات پاکستان دوباره وارد کشمیر گردند .

۱۱سرطان ، بی بی سی :

داکتر فاروق اعظم وزیر تعلیم وتربیه درحکومت عبوری ، ومعاون تنظیم محاذ ملی طی یك کنفراس مطبوعاتی درمقروزارت تعلیم وتربیه استفای خودرا از وزارت ومعاونیت محاذ اعلام نمود . وی که معاون کمیته انتخابات نیز بود ابراز داشت که مجددی وپیرگیلانی هردودرزمینه برگزاری انتخابات موانع ایجاد نمودند وبدین سبب همه پولهای مصرف شده درین بخش ضایع گردید. همچنان وی پیرگیلانی رامتهم به روابط نزدیك بانجیب نمود ،وگفت این عمل وي همه اشخاص بااحساس محاذ را ازرده ساخته است .

۱٤سرطان ، تلویزیون پاکستان :

بعد ازشکست قاطع حزب مردم برهبری ممتاز حسین راتور درازاد کشمیر وپیروزی حزب کنفرانس اسلامی ، صدراعظم سابق کشمیر راتور خواهان اجرای انتخابات جدید گردید وگفت درانتخابات تقلب وخیانت صورت گرفته است .چنانچه وی حکومت ایالتی کشمیر راتهدید به مبارزه مسلحانه نمود ، مقامات مسئول کشمیر قبل از خراب شدن وضع راتور راتوقیف نموده ودرعوض وی رئیس ستره محکمه کشمیر اقای سردارمحمداشرف رابحیث صدراعظم موقت تعیین نمودند .

*** ***

بعدازدرگیری چهار روزه بین حکومت لبنان ومهاجرین فلسطینی دران کشور ، موافقتنامه صلح بین طرفین به امضارسید . درظرف چهار روز بتعداد ٤٥ نفر از هردو طرف کشته شده است .

طبق این موافقت نامه فلسطینی ها تمام سلاح های سنگین خودرا بدولت لبنان تسلیم خواهندنمود.

۱۵سرطان ، بی بی سی :
اقای جاکوبی وزیر امورخارجه سویس بعد ازملاقات بارهبران مجاهدین درشهر پشاور گفت :
رهبران مجاهدین هرنوع مذاکره بانجیب را رد می نمایند ، ویگانه چیزی که رهبران مجاهدین به ان توافق نظر دارند شرکت نکردن نجیب درحکومت اینده افغانستان می باشد.

۱۸سرطان ، صدای امریکا:
موسسه عفو بین الملل که مقر ان درلندن است ازرژیم کابل خواسته است تالست کسانی راکه درطول کودتا زندانی ویاازبین برده شده اند ترتیب نموده وبه این موسسه بفرستد . چنانچه این موسسه در گزارش امسال خودیکباردیگرحکومت کابل رامتهم به زندانی ساختن افراد بی گناه نموده است .

۲۱سرطان ، بی بی سی:
اقای نوازشریف صدراعظم پاکستان طی یك کنفرانس مطبوعاتی گفت : باید اقدامات جدی درمورد جلوگیری از ازدیاد نسل صورت گیرد. وی ابراز داشت اکنون نفوس پاکستان به (۱۱۵) ملیون نفرمیرسد اگر وضع چنین باشد درظرف بیست وسه سال اینده نفوس پاکستان دوچند تعداد کنونی خواهد شد که دران صورت ...

۲۲سرطان ، روزنامه وحدت :
سه تن از رهبران مجاهدین هریك محترم ربانی ، محترم حکمتیار ،محترم سیاف طی یك اعلامیه ای مشترکی ابراز داشته اند که تاپیروزی کامل وتاسیس حکومت اسلامی بجهاد خویش ادامه میدهند .دراعلامیه گفته شده که پیروزی های اخیر مجاهدین درخوست ، تخار وکندز دشمنان راسخت وارخطاء ساخته است وتوطیه های خودبر علیه جهاد را تیز تر نموده اند. ولی مجاهدین افغان بفضل خداوند همه این دسایس را خنثی وناکام ساخته ودست از جهاد مسلحانه برنمیدارند ، انهااقدامات بنام حل سیاسی را مصروف ساختن مجاهدین دانسته اند وچناتچه طرح تجویز حکومت مخلوط را مردود شمرده و گفته اند حق تعیین حکومت اینده افغانستان مربوط ومنوط به مجاهدین افغان است وبس .

۲۲سرطان ، بی بی سی:
رئیس دولت مصر اقای حسنی مبارك طی یك نامه ای از صدام حسین خواسته است که لست مراکز اتومی خویش را دراختیار هیئت مؤسسه ملل متحد بگذارد ، تابااین عمل خود عراق ومردم انرا از تباهی وبربادی نجات بدهد .چنانچه امریکابه عراق اخطارداده است که تاتاریخ ۲۶ جولای لست مکمل مراکز اتومی وکیمیاوی خودرا به ان کشور بدهد درغیرمنتظرحمله دومی قوای متحدین باشد .

۲۵سرطان ، بی بی سی :
ببرك کارمل غلام حلقه بگوش روسها که یکماه قبل بکابل فرستاده شده بود در اولین مصاحبه خویش بانماینده رادیو بی بی سی باپررویی تام گفت : من مخالف مداخله قوای روسی بخاك افغانستان بودم !! واکنون بنابه دعوت حکومت کابل به افغانستان برگشته ام !! ببرك گفت در دوران ریاست چندین بار استعفای خودرا تقدیم کابینه نمودم ولی از طرف اعضای حزب پذیرفته نه شده بود؟؟؟

یك شاعر افغان ببرك راچنین معرفی می کند :

می شناسم این سگ مردود را
کاسه لیس ظاهروداود را
این خیانت کارشرم آلود را
بلشویکی نوکر تزار مل
کارغل غدارمل دربار مل

۲۶، سرطان ، تلویزیون پاکستان :
قرار است مذاکرات سه جانبه بین حکومت ایران ،

حکومت پاکستان ونمایندگان مجاهدین افغان بشمول تنظیم های شیعه وسنی جهت یافتن راه حل مسله افغانستان دراسلام اباد شروع شود .
درین مذاکرات نماینده حکومت ایران علی اکبر ولایتی وزیر خارجه ان کشور ونماینده حکومت پاکستان اکرم ذکی سکرتر وزارت خارجه سهیم خواهند بود .

*** ***

پاکستان اولین تانك محاربوی خویش بنام «الخالد» راکه به کمك حکومت چین تکمیل گردیده است درمعرض نمایش گذاشت .

۲۸سرطان ، صدای امریکا :

بعد ازختم مذاکرات کشورهای صنعتی درلندن که بروز دوشنبه گذشته شروع شده بود ، جورج بش به یونان رفت ، درشهر اتن محصلین دست به برپایی مظاهرات زدند وشعارهای ضد امریکایی راسردادند پروگرام شدید امنیتی مانع ادامه مظاهرات گردید.

۲۸ سرطان ، رادیو المان :

معمرالقذافی رهبر انقلاب لیبیا بحکومت ترکیه خاطر نشان ساخته است که اگر بار دوم ازخاك ترکیه برعلیه عراق استفاده نظامی صورت گیرد دران وقت روابط دپیلوماسی خود باترکیه راقطع خواهد کرد .

*** ***

موسسه صلیب سرخ همکاران خود راازافغانستان خارج ساخته وگفته است که حیات انها درخطر بود وانها ازشرایط امنیتی خوبی برخوردار نبودند .
قابل یاداوری است که این موسسه بعد از تسلیمی تنی چند ازمحبوسین جنگ خوست بحکومت کابل متهم به همکاری بارژیم گردیده است .

۲۹ سرطان ، بی ، بی ، سی :

مقامات حکومت سعودی اعلام نموده اند که اگر اسرائیلی ها درمناطق اشغالی فلسطین ازاعمار اماکن جدید برای یهودیان دست بردارند ، دران صورت سعودی حاضر خواهد بود تابایکات چهل ساله اقتصادی خویش باان کشور را لغو اعلان نماید این مطلب بعد از سفر وزیر خارجه امریکا جیمز بیکر به سعودی ازطرف سعود الفیصل گفته شده است ، درحالی که اسرائیل این پیشنهاد رارد نمود .

۳۰ سرطان ، بی ، بی ، سی :

مجاهدین افغان طی عملیات متحدانه خویش کنترول شهر اشکاشم بدخشان رابدست اوردند این دومین پیروزی بزرگ مجاهدین بعد از فتح زیباك طی دوهفته اخیرمی باشد.

۳۱ سرطان ، صدای امریکا :

سخنگوی شورای ائتلاف مجاهدین شیعه افغانستان مقیم پشاور محترم حجة الاسلام سید محمد علی جاوید درباره کنفرانس اسلام که دراینده قریب تشکیل خواهد شد چنین گفت : بعضی ازدوستان به این نظر هستند که هدف این کنفرانس یافتن راه حل سیاسی برای قضیه افغانستان است زیرا جهانیان اکنون به راه حل نظامی دل نمی بندند وخواهان راه حل سیاسی اند ، وی میگوید : بااین هم فشار نظامی بالای رژیم ضروری است وماتااکنون ازحل نظامی مایوس نیستیم ودرعین حال یافتن راه حل سیاسی رانیز رد نمی کنیم .
محترم جاوید گفت : ما ازهمه کشورهای همسایه خود چنین ارزو داریم که نظریات خود رابرملت ما تحمیل نکنند ، ماملتی هستیم که خود مصالح خود را درك می نمائیم ودرباره ان تصمیم می گیریم ، وازپاکستان وایران توقع ما این است که تنها حامی ماباشند نه اینکه نظریات خود را بر ما تحمیل کنند .
وی گفت روابط حکومت کابل وایران خوب شده است ولی این روابط به کاراین کنفرانس تاثیری نخواهد گذاشت ، زیرا تصمیم گرفتن بدست مجاهدین افغان است نه بدست ایران وپاکستان .

ابدي ژوندي

شهيدکشميرخان

شهيد کشمير خان دګل محمد زوی په ۱۳٤٥ هـ ش کال دپکتيا ولايت دځمکنيو ولسوالی دمندخيلو په کلی کی زيږيدلی ؤ.

نوموړی په ۱۳٥۸ هـ ش کال دخپلی کورنی سره پاکستان ته مهاجر اوهجرت وروسته يی په وسله وال جهاد پيل کړی ، دجهاد په دوران کی يی ددين اووطن دښمنانو ته زيات ځانی اومالی تاوانونه واړولی دي.

بالاخره دغه نوميالی مجاهدد۱۳٦۹ هـ ش کال دحوت په ۱۵ مه نيټه ددښمن دماين دچاوديدو له امله دشهادت لوړ مقام ته ورسيد .

(اناالله وانا اليه راجعون)

شهيدلعل ګل

شهيدلعل ګل دسيد اسلام زوی په ۱۳٥۰ هـ ش کال د ننګرهار ولايت دکوز ولسوالی دوزيرو په کلی کي زيږيدلی دی.

نوموړی دپکتيا ولايت دابوجندل (رض)په غونډ کي وسله وال جهاد کاوه ، اودجهاد په دوران کي يي ددين اووطن دښمنانو ته زيات ځانی اومالی تاوانونه وراړولی دي.

بالاخره دغه نوميالی مجاهد په ۱۳۷۰/۱/۱ نيټه دخوست دفتحی په عملياتو کي دفارم باغ اوملېزو تاپوګانو دفتحه کولو وروسته دعمرخان په کلی کي ددښمن سره په يوه مخامخ جګړه کي دشهادت لوړ مقام ته ورسيد .

(اناالله وانااليه راجعون)

شهيدولی يونس

شهيد ولی يونس دحاجی ببرك زوی په ۱۳٥۲ هـ ش کال دپکتيا ولايت دعلی شيروعلاقداری دځدرانو په کلی کې زيږيدلی دی.

نوموړی ديوڅه دينی زده کړو وروسته په وسله وال جهاد پيل کړی اودجهاد په دوران کې يې ددين اووطن دښمنانو ته زيات ځانی اومالی تاوانونه وراړولی دي.

دغه نوميالی مجاهد په ۱۳۷۰/۱/۱ نيټه ديعقوبيو علاقداری د فتحه کولوپه وخت کې دشهادت لوړ مقام ته ورسيد

(اناالله واناالیه راجعون)

شهید محمد فاضل

محمد فاضل دیکی جان زوی چی په ۱۳۵۰ هـ ش کال دننگرهار ولایت دکامی ولسوالۍ دښخو په کلی کې زیږیدلې ؤ ، په ۱۳٦۰ هـ ش کال کې يي له خپلې کورنۍ سره اسلامی هیواد پاکستان ته هجرت کړی اودشمشتو په کمپ کی اوسیده .

تنکی ځلمی ؤ چی له جهاد سره زیاتی مینی دوسله وال جهاد سنگرونو ته وروست اودمولوی صاحب «خالص» داسلامی حزب مربوط قوماندان احمد شاه ترقوماندۍ لاندی یی ددین اووطن دښمنانو په وړاندی وسله وال جهاد پیل کړ ، په ډیرو جهادی عملیاتو کی یی برخه اخیستی اودکامی په لویه فتحه کی یی پوره میړانه اونړورتیا وښوده. دوسله وال جهاد په جریان کی خوځلی سخت زخمی شو ، خوتر جوړیدو وروسته به یی سمدستی په وسله وال جهاد کی برخه اخیستله .

بالاخره دحقی لاری دغه تکړه مجاهد په ۱۳۷۰/٤/۱۷ نیټه دیکشنبی په ورځ په یوولسو بجو دکامی په ښخو کی پداسی حال کی چی ملحدینو په پوسته یی دراکټ لانچر څلور ، پنځه ډزی کړی وی ، چی ددښمن دپیکا په مرمی ولگید اودشهادت لوړمقام ته ورسید

انالله وانااليه راجعون

شهید عبدالقدیر

شهید عبدالقدیر دپاچاخان زوی دپکتیا ولایت دشهرنو ولسوالۍ دوچ نگو په کلی کې زیږیدلی اوپه قوم مقبل ؤ.

نوموړی په افغانستان کی له ثور کودتا سره جوخت په وسله وال جهاد پیل کړی اودجهاد په دوران کې یې ددین اووطن دښمنانو ته زیات ځانی اومالی تاوانونه وراړولی دي .

دغه نومیالی مجاهد په ۱۳٦۹/٥/۱٤ نیټه دسلمان فارسی (رض) په غنډ کې شامل اود ۱۳٦۹ هـ ش کال دقوس په میاشت کی ددرملکی په سیمه کې ددښمن داوبوس توپ په مرمۍ ولگید اودشهادت لوړ مقام ته ورسید

انالله وانااليه راجعون

شهیدنورمحمدجان

شهید نور محمد جان دلعل محمد زوی په ۱۳٤٥ هـ ش کال دپکتیا ولایت دوزی ولسوالۍ دگدرانو دملایانو په کلی کې زیږیدلی دی.

نوموړی په افغانستان کی دثور کودتا په کیدو سره جوخت دخپلی کورنۍ سره پاکستان ته هجرت کړی اوله هجرت څخه وروسته یې په وسله وال جهاد پیل وکړ اودجهاد په دوران کې یې ددین اووطن دښمنانو ته زیات ځانی اومالی تاوانونه وراړولی دي.

دغه نومیالی مجاهد په ۱۳۷۰/۱/۱۱ نیټه دخوست دفتحی په شپه په داسی حال کی چی په دښمنانو یې دټانك ډزی کولی ددوی ټانك ددښمن دراکټ په مرمۍ ولگید اونوموړی په کې دشهادت لوړ مقام ته ورسید.

(انالله وانااليه راجعون)

شهيد سيد مرجان

شهيد سيد مرجان دحيدر خان زوی دپکتيا ولايت دخوست دلويی ولسوالی دکونديو په کلی کی زيږيدلی دی .

نوموړی دشوروکودتا سره جوخت پاکستان ته هجرت کړی او دهجرت څخه وروسته يې په وسله وال جهادپيل وکړ اودجهاد په دوران کې يې ددين اووطن دښمنانو ته زيات ځانی اومالی تاوانونه وراړولی دي .

دغه زړور اونوميالی مجاهد دخوست په عملياتو کې په ۱۳۷۰/۱/۱۱نيته په داسی حال کې چې په دښمنانو يې دزی کولی اوهم يې دجګړی فلمبرداری کوله ، دخوست دنوی هوايی ډګر دترکی پوستی سره نږدی دشهادت لوړ مقام ته ورسيد

(انالله واناالیه راجعون)

شهيد پير سيد گل احمد شاه

شهيدطالب العلم سيد گل احمد شاه دسيد غازی شاه زوی دپکتيا ولايت دځاځی ميدان په ولسوالی کې زيږيدلی اوپه قوم ځاځی دی.

نوموړی دسراج الاسلام په دينی مدرسه اودکوهاټ اوهنگو په بيلا بيلو مدرسو کې دينی زده کړی سرته رسولی اودزده کړو ترڅنگ يې ددهريانو په مقابل کی وسله وال جهاد هم کاوه چی دجهاد په دوران کې يې ددين اووطن دښمنانو ته زيات ځانی اومالی تاوانونه وراړولی دي .

بالاخره دغه نوميالی مجاهد دخوست دفتحی په عملياتو کې دمسلی او چنار پوستو باندی دورختلو په وخت د ۱۳۶۹/ ۱۲/۳۰ نيته دشهادت لوړمقام ته ورسيد ،

(انالله واناالليه راجعون)

شهيدطالب العلم لعل محمد

شهيد لعل محمد د قوماندان ټيکدار زوی په ۱۳۴۸ هـ ش کال دپکتيا ولايت مرکز گرديز ددولت زو په کلی کې زيږيدلی دی.

نوموړی دينی زده کړه دخاکی په نعمانيه مدرسه اوڅه يې دلاهور په بيلا بيلو مدارسو کې سرته رسولی اودزده کړو ترڅنگ يې دملحدينو په مقابل کی وسله وال جهاد هم کاوه ، چی دجهاد په دوران کی يې د دين او وطن دښمنانو ته زيات ځانی اومالی تاوانونه وراړولی دي.

بالاخره دغه نوميالی مجاهد دخوست دتاريخی فتحی په ورځ ۱۳۷۰/۱/۱۱ دمتون بابا پوستی دفتحه کولو په وخت ددښمن سره په مخامخ جگړه کی دشهادت لوړمقام ته ورسيد .

اناالله واناالیه راجعون

راقمه عزیزالدین وکیلی فوفلزائی
۱۳۵۳ ش
۱۳۹۴ ق